دعوت

٨

ARIC



مونږ د الله تعالی له ذاته نه بغیر له هیچا څخه د مافوق الاسباب استمداد قایل نه یو
شیخ جمیل الرحمن

وعن عبدالله بن عمرو قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم، المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده والمهاجر، من هجر مانهی الله عنه (هذا لفظ البخاری) ومسلم قال انّ رجلا سأل النبی صلی الله علیه وسلم، ایّ المسلمین خیر؟ قال من سلم المسلمون من لسانه ویده.

(متفق علیه)

ترجمه: عبدالله (رض) بن عمرو نه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: (پوره) مسلمان هغه دی چه دهغه دژبی او لاسونو نه مسلمان محفوظ او په امان وی او مهاجر هغه دی چه هغه ټول څیزونه ئ پریښی وی دکومو نه چه الله جلّ جلاله منع فرمایلی ده. (دا الفاظ د بخاری دی).

او په مسلم کښی دا الفاظ دی: چه یو سړی له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس وکړو چه مسلمانانو کښی د ټولو نه ښه سړی کوم یو دی؟ حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه سړی چه د هغه دژبی او لاسونو نه مسلمانان په امان وی. (بخاری او مسلم)

اُدْعُ اِلٰی سَبِیْلِ رَبِّکَ بِالْحِکْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ

دعوت

د جماعة الدعوة الى القرآن والسنة د افکارو خپرونکی

PROPERTY OF ACKU
S524

دوهم کال ـ اتمه گنه د ۱۴۱۰ هـ ق کال د ربیع الاول او ربیع الثانی میاشتی

هغه څه چه پدی گنه کښی لولی

شماره	مضمون	مخ
۱ـ	قرآنی درسونه	۲
۲ـ	اسلامی اخلاق	۸
۳ـ	قرآنی دعوت او هدایت	۱۰
٤ـ	حقانیت مسلك اهلحدیث	۱۴
٥ـ	تقلید	۲۲
٦ـ	اتحاد از نص قرآن آمده است .	۲۴
۷ـ	جاهل در دین و آئین مانده ایم .	۲۷
۸ـ	په مقبرو باندی	۲۹
۹ـ	اسلام د سولی او امنیت مدافع دی	۳۲
۱۰ـ	یولنډ داستان	۳۶
۱۱ـ	د ایمان او عقیدی سنگر	۴۰
۱۲ـ	د برلین دیوال و نړید	۴۳

مؤسس :
مولوی جمیل الرحمن

د امتیاز خاوند :
جماعة الدعوة الى القرآن والسنة

خپرونکی اداره :
ددعوت او ارشاد کمیټه ـ فرهنگی لوی مدیریت

مهتمم :
مولوی غلام الله (رحمتی)

پوست بکس
۱۲۰۲
پیښور ـ پاکستان

•••••••

بسم الله الرحمن الرحیم

قرآنی درسونه

الفاتحه

نوم :

شیخ غلام الله "رحمتی"

د دی سورة نوم الفاتحه دی چه د هغه له موضوع سره د تناسب په وجه وربانددی ایښودل شویدی . دی سورة ته ځکه فاتحه وائی چه د هرلمانځه شروع په دغه سورة سره کیږی او فاتحه په لغوی معنی سره دیو کتاب یایوی موضوع او مضمون پیل ته وائی . پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی :

«لا صلوة الابفاتحة الکتاب»

بله وجه داده چه فاتحه دقتحی نه اخستل شوی فتح کلا ویدو ته ویلی کیږی ددی سورت په زده کړی او عقیدی او عمل باندی هم انسان ته د جنت دروازی کلاویږی بله وجه داده چه د قرآن تعلیم او تعلم له فاتحی نه پیل کیږی او که څوك غواړی چه قرآن زده کړی له هر څه نه لومړی باید د فاتحی سورة پیل کړی او که و غواړی چه لمونځ وکړی هم باید فاتحه ئی زده وی ځکه غیر له دی سورة څخه لمونځ نه کیږی .

دغه راز دی سورة ته د «ام الکتاب» او «ام القرآن» نومونه هم ورکړل شوی ځکه چه د ټول قرآن د مضامینو او مطالبو لنډیز او خلاصه پکی موجود ده . ځینی علمأ لا داهم وائی چهٔ د ټولو آسمانی صحیفو د مطالبو خلاصه په څلورو کتابونو (تورات ، انجیل ،زبور ، فرقان) کی راغونډه شوی ، بیا د څلورو کتابونو د محتویاتو خلاصه په قرآن مجید کی راجمع شوه او بیا د ټول قرآن د مطالبو خلاصه په حوامیم سبعه کی یوځای شوی ده . د حوامیم سبعه خلاصه د مومن د سورة په (۱۴) آیت کی په دی ډول وړاندی شوی ده :

«فادعو الله مخلصین له الدین»

دغه ټول حواميم د «ادعوا لله مخلصين» په محور ګرځي او د «ادعوالله مخلصين» خلاصه د سورة فاتحې په دې مبارك آيت كې راغلې ده چه :

«ايك نعبد واياك نستعين»

لكه څنګه چه د مومن په سورة كې «فادعوا لله مخلصين» ويل شوي په فاتحه كې هم «اعبدو الله مخلصين» راغلي دي ځكه د «اياك نعبد» معنی اعبدوالله مخلصين» ده .

په دې ډول معلومه شوه چه د ټولو آسماني كتابونو خلاصه په قرآن مجيد او د قرآن مجيد خلاصه په حواميمو او د حواميمو خلاصه په سورة مومن كې او د مومن خلاصه په سورة فاتحه كې بيان شوې ده نو كه سورة فاتحه په غور او دقت سره ولوستل شي د قرآن مبارك په ټولو مطالبو او بلكه د ټولو آسماني كتابونو په لنډيز او خلاصه باندې پوهه حاصليږي .

ددې خبرې بل دليل دادې چه په ټول قرآن عظيم الشان كې اوه عمده مطالب ځاى لري چه عبارت دي له : توحيد ، رسالت ، د قيامت ثبوت ، د الله تعالى په لاره كې انفاق او جهاد ، د دې پنځو شيونو منونكي او نه منونكي . او همدغه اوه مطالب په سورة فاتحه كې راغلي دي په دې ډول چه : له «الحمد لله» نه تر «مالك يوم الدين» پورې د توحيد بيان دی . «يوم الدين» د قيامت موضوع ده او په «اهدنا الصراط المستقيم كې «رسالت ته اشاره ده ځكه چه وروسته ئې د «الذين انعمت عليهم» په ټكو توضيح شويده او په «اياك نعبد» كې انفاق فى سبيل الله ته اشاره ده ځكه «نعبد» د عبادت څخه مشتق دی او عبادت په دوه ډوله دی بدني عبادات او مالي عبادات چه مطلب ترې د الله تعالى په لاره كې انفاق او جهاد دی . په پای كې د دغو پنځو اصولو منونكي د مومنانو په نوم او نه منونكي ئې د كافرانو او ګمراهانو په نوم ياد شول (الذين انعمت عليهم غير المغضوب عليهم والاضالين)

دريم مناسبت دادې چه قرآن عظيم الشان په پنځو برخو تقسيم دی لومړی برخه ئې له «سورة فاتحه» نه تر «انعام» پورې . دوهمه برخه له «انعام» نه تر «كهف» پورې ـ دريمه له «كهف» نه تر «سبا» پورې ـ څلورمه برخه له «سبا» نه تر «فاطر» پورې او پنځمه برخه له «فاطر» نه تر آخره پورې رسيږي . له دغو پنځو برخو څخه هره برخه په «الحمدلله» سره پيل كيږي چه دا پخپله دهرې برخې د پيل دليل هم دی او په څرګند ډول ترې معلوميږي چه قرآن مبارك په پنځو برخو تقسيم دی : په لومړې برخه كې يعنی له سورة بقره نه نيولې تر انعام پورې د الله

تعالی په الوهیت باندی بحث کیږی ـ د سوره انعام نه تر کهف پوری د الله تعالی په ربوبیت (رب العالمین) باندی رڼا اچول شوی ، له کهف نه تر سورة سباپوری د الله تعالی په رحمانیت ، له سورة سبانه تر فاطر پوری د الله تعالی په رحمیت او د فاطر نه ترپای پوری په «مالك یوم الدین» باندی بحث شوی دی چه د دغو ټولو پنځو بحثونو لنډیز او اجمال په سوره فاتحه کی د (الله ـ رب ـ رحمن ـ رحیم ـ مالك) په کلماتو کی پروت دی . په دی ډول ثابت شوه چه د ټول قرآن مضامین په سورة فاتحه کی راغونډ شوی او ځکه خو ورته نوم «ام الکتاب» ایښودل شوی دی .

د نزول ترتیب:

سوره فاتحه په ترتیب نزولی کی پنځم سورة دی چه د محمدی نبوت په لومړنیو وختو کی نازل شوی دی خود عثمانی ترتیب له مخی لومړی سورة دی چه دوړاندی والی یولړ عوامل ئی د نوم په بحث کی ذکر شول . مگر دځینو معتبرو روایاتو له مخی داهم معلومه شوی دی چه دا لومړنی مکمل سورة دی چه په محمد علیه السلام باندی نازل شوی دی .

موضوع:

سورة فاتحه د قرآن عظیم الشان له پاره د خطبی حیثیت لری اوپدی کی براعت الاستهلال دی او براعت الاستهلال د علم البدیع په اصطلاح د محسناتو په جمله کی شمارل شوی او دی ته وائی چهٔ د اصل مقصد نه وړاندی داسی الفاظ په خطبه کی ذکر شی چه په اصل هدف او مقصد باندی مشعر وی یعنی داسی الفاظ بیان شی چه خلك د اصل هدف په باب په اجمالی ډول آگاه کړی . په سوره فاتحه کی هم داسی الفاظ را وړل شوی چه د قرآن په مطالبو کی اشعار او آگاهی ورکوی په دی ډول چه : د «الحمد لله» نه تر «ملك» پوری دا خبره واضح کیږی چه په دی قرآن کی د الله تعالی صفات بیانیږی او د «یوم الدین» په ویلو سره دا راز را څرگندیږی چه په دی آسمانی کتاب کی د قیامت د ورځی بحث هم شته . د «ایاك نعبد» نه مطلب دا راولاړیږی چه د قرآن په متن کی د توحید فی العبادت په باب بحث شویدی . د «ایاك نستعین» لفظ لوستونکی خبروی چه د الله تعالی په دی کتاب کی د توحید فی الاستعانت په حقله بیان هم شته . د «اهدنا الصراط المستقیم» په ویلو سره دا خبره په ډاگه کیږی چه په قرآن مبارك کی د بشریت د نجات لپاره یوه مستقیمه لار ښودل شوی ده چه د هغی په خپلو لو سره بشری پرگنی د دنیوی او اخروی سعادت او سوکالی په بڼ ورگډیدلی شی .

په «صراط الذین انعمت علیهم» کی دی خبری ته اشاره و شوه چۀ که څوك د الله تعالی دغه صفات او دعوت و منی نو په هغو باندی د الله تعالی له طرفه انعام دی .

په «غیر المغضوب علیهم ولا الضالین» کی دا حقیقت په ډاګه کیږی چه که دغه صفات سره د پوهی چانه وی منلی ، نو د الله تعالی د قهر او غضب مورد به وګرځی او که په جهل او ناپوهی ئی نه وی منلی نو ضالین او ګمراه دی چه په قرآن مجید کی به ئی بحث راشی . چه دغه ټول آیاتونه په حقیقت کی د قرآن عظیم الشان براعت الاستهلال دی .

د سورة فاتحی مضمون او محتوا په حقیقت کی د ټول قرآن مجید مضمون او محتوا ده څکه په دی سورة کی هغه مطالب په لنډه توګه بیان شوی چه وروسته ئی تفصیل د قرآن مجید په بیلا بیلو سورتونوکی راځی .

قرآن مجید د الحمد لله نه ښیولی تر والناس پوری په دی ډول خلاصه کیږی چه : لومړی دهغه ذات تعریف کیږی چه باید دهغه لوری ته خلك راوبلل شی یعنی مدعو الیه . دغه پاك ذات باید خلکو ته ورویپژندل شی . لکه څنګه چه د یوسف په سورة کی ویل شویدی :

«قل هذه سبیلی ادعوا الی الله»

ورته ووایه زما لار داده چه د الله لوری ته دعوت ورکوم .

یعنی ورته ووایه چۀ زما مدعو الیه الله تعالی دی اوزه به خلك د الله لوری ته رابلم او د ځأن یا مخلوق بندګی ته به ئی نه تشویقوم .

دویم : دغه ذات ته درسید و لار کومه ده ؟

دریم : لار څومره اوږده ده ؟

څلورم : د رسیدو امکان شته کنه ؟

پنځم : حال د هغو کسانو چه دغه دعوت منی او حال دهغو کسانو چه دعوت ته شاکړی او له منلو نه ئی انکار کړی دی بیانیږی .

دغو پنځو پوښتنو ته د قرآن مجید په متن کی په زیات تفصیل او تکرار سره ځواب ورکړل شوی چه مونږ به ئی ځینی مثالونه وړاندی کړو :

لومړی پوښتنی ته چه د مدعوالیه د پاك ذات په تعریف پوری اړه لری داسی ځواب ورکړل شوی :

هوالله الذی لا اله الا هو عالم الغیب و شهادة هو الرحمن الرحیم . هو الله الذی لا اله الا هو الملك القدوس السلام المومن المهیمن العزیز الجبار المتکبر سبحان الله عمایشرکون . هوالله الخالق الباری المصور له الاسماء الحسنی یسبح له مافی السمٰوٰت والارض وهو العزیز الحکیم .

او که د لومړۍ پوښتنی بل جز داسی وړاندی شی چه خدای له مونږ څخه لیری دی که

نږدی ؟ نو ځواب ورکول کیږی چه :

فانی قریب ـ اجیب دعوة الداعی اذا دعانی .

دوهمی پوښتنی ته چه الله تعالی ته د رسیدو لاره کومه ده ؟ داسی لارښوونه کیږی :

ان الله ربی وربکم فاعبدوه هذا صراط مستقیم .

دریمه پوښتنه چه د لاری د فاصلی او واټن په باب ده داسی ځوابیږی چه په دغه لاره کی پنځهٔ منزلونه راځی :

١ ـ شهادة لا اله الا الله وشهادة ان محمداً عبده ورسوله .

٢ ـ اقام الصلوة

٣ ـ ایتاء الزکوة

٤ ـ صوم رمضان

٥ ـ حج البیت

په بل ډول دا منزلونه دوه بیان شویدی : ایمان او عمل صالح . او قرآن مجید په بیابیا په دی خبره زور اچولی چه انسان باید له ایمان سره نیك عمل هم ملگری کړی :

«وبشرالذین آمنوا وعملوا الصلحت ان لهم جنت تجری من تحتها الانهار» .

یعنی په الله تعالی باندی ایمان او د اتباع الرسول له منزلونو وروسته انسان دهغو جنتونو خاوند کیدی شی چه الله تعالی ئی ستاینه کړی ده .

څلورم مطلب دادی چه لاره څنگه باید ووهل شی . قرآن مجید دغه مساله هم په ډیر صراحت سره حل کړی فرمائی :

«والذین جاهدوافینا لنهدینهم سبلنا»

په دغه ترڅ کی که د مشکوك انسان په زړه کی له مرگ نه وروسته د بیا راژوندی کیدو او حشر کیدو او د قیامت د ورځی د انعقاد په باب څه شکوك او شبهات پیدا شی نو قرآن مجید ورته په صراحت سره د شکوك ازاله کوی . ورته فرمائی :

«وربی لتحشرن»

قسم په خدائی چه تاسو به حشر کیږی .

یاداچه :

«کیف تکفرون بالله وکنتم امواتاً فاحیاکم ثم یمیتکم ثم یحییکم ثم الیه ترجعون» .

لنډه دا چه د قرآن مبارك یوه لویه برخه د قیامت د ورځی د اثبات لپاره وقف شوی او په زیات وضاحت او ټینگار سره ویل شوی چه د قیامت ورځ خامخا راتلونکی ده چه د انسانی اعمالو ښی او بدی نتیجی به اعلانیږی او خلك به د الله تعالی حضور ته ورځی . هغه کسان چهٔ د الله تعالی په هدایت کړی شوی لار روان شوی او الهی احکام ئی د ژوند سرمشق گرځولی ، د الله تعالی وعده ورسره داده چه : ان لهم جنت ـ فهو فی عیشة راضیه ـ او هغه کسان چه د الله تعالی دعوت ئی نه وی منلی او غاړه ئی تری غړولی وی نو اعلان ورته شوی دی

چۀ :

«والذین کفروا وکذبو بآیٰتنا اولئك اصحاب النارهم فیها خالدون» .

که د چاسره دا خیال وی چه د دنیا منزل پای نه لری او یا به د عمر په تیریدو سره د الله تعالی په وعده کی څه تغیر او تبدیل راشی نو دوی هم په اشتباه کی پری وتی او د قرآن متن بار بار اعلانوی :

«ـ وما هو بمزحزحه من العذاب»

«ـ ان الله ـ انك لاتخلف المیعاد»

خو دغه پورتنی پنځه مطالب چه د قرآن مجید محتوا او مضمون تشکیلوی په سورة فاتحه کی په لنډ او اجمالی ډول راپو ځای شوی په دی ډول چه :

په الحمد لله ـ کی د الله تعالی دصفاتو ذکر پیل کیږی . یعنی یوازی د هغه ذات د ټولو ښو صفتونو لرونکی دی .

رب العالمین . یعنی پالونکی د جهانیانو دی

الرحمن : په دنیا کی د کافر او مؤمن دواړو لپاره روزی رسان دی .

الرحیم : یعنی د قیامت په ورځ یوازی په مؤمنینو باندی د زیات رحم خاوند دی .

مالك : یعنی د جزاد ورځی پادشاه .

تر دغه ځایه ټول د الله تعالی صفات دی .

یوم الدین : یعنی د قیامت ورځ .

خو د الله تعالی حضور ته درسیدو او له هغه څخه د انعام اخستو لپاره ضروری ده چه قلبًا او عملاً ایاك نعبد : یوازی ستا عبادت کوو ووایوچه :

وایاك نستعین : او یوازی ستا نه مدد غواړو .

اهدنا الصراط المستقیم : مونږ ته سمه او مستقیم لار وښایه .

صراط الذین انعمت علیهم : لار دهغو کسانو چه تا وربانَدی انعام کړی دی . (مومنان)

غیر المغضوب علیهم : نه لار دهغو کسانو چه ستا د قهر او غضب مورد گرځیدلی . (کافران)

ولا الضالین : او نه لار د گمراهانو .

او په دی ډول د سورة فاتحی مضمون عینًا هماغه د ټول قرآن مضمون دی چه مونږ وربانَدی وړاندی بحث وکړ .

(نوربیا)

اسلامي اخلاق

د اسلامي اخلاقو د تشريح او توضيح نه وړاندي دا لازمه ده چه د انسان په عمومي اخلاقو باندي ځغلند نظر وشي .

اخلاق هغه لومړني وصف دی چه د انساني ژوند مانۍ ورباندي ولاړه ده يعني که انسان په کامل ډول له اخلاقو نه محروم او بې برخي وي بيانو په ټولنه کی دده ژوند پخپله دده او د جامعي دواړو لپاره د تباهي او بربادي اسباب برابر وي . اخلاقي وصف د ژوند په ټولو حالاتو او شرايطو کی د انسان لپاره لازمي او ضروري شرط دی .

دا جدا خبره ده چه انسان خپل اخلاقي وصف د غلط هدف لپاره استعمالوی او که د پاك او سپيڅلي مقصد او سرمنزل لپاره .

د ارادی قدرت او د فيصلي قوت ، عزم ، حوصله ، صبر او ثبات زغم او تحمل ، همت او شجاعت ، د ربړگاللو استعداد او د خپل هدف سره مينه او عشق ، احتياط ، په معاملاتو باندي پوهه او تدبير ، په حالاتو او شرايطو باندي فهم او د هغو په اساس ځان عيارول او ورسره د مناسب تدبير غوره کول ، په جذباتو او احساساتو باندي حاکميت او له نورو څخه د کار اخستو صلاحيت هغه صفات دی چه د انسان لپاره په د نيوی چاروکی د بريالیتوب دروازی پرانيزی او په دغو صفاتو باندي متصف انسان به د مقابلي په صورت کی له هغه چانه په ډيره آساني ميدان وگټی چه له دغو صفاتو څخه محروم او بی برخی

وی او که هر څوئی د اعمالو آئینه خړه پړه
وی خو شك نشته چه د دغو صفاتو په لړلو
سره به یوه ورځ نه یوه ورځ له ده نه یو
فعال او ګټور انسان جوړ شی . له دغو
صفاتو نه وروسته د انسان د فعالیت او
ګټورتوب لپاره د یولړ شریفانه خصایلو او
اوصافو ضرورت هم باید له یاده و نه باسو
ځکه دا وروستی صفات په حقیقت کی د
انسانیت جوهر دی چه په دنیا کی د انسان
وقار ، حیثیت او اعتبار تثبیتوی . دغه صفات
عبارت دی له خودداری ، فیاضی ، رحم ،
همدردی ، انصاف او عدالت ، وسعت نظری ،
صداقت ، امانت ، د عهد او وعدی پوره کول ،
معقولیت ، اعتدال ، وړتیا او شایستګی ، طهارت
او نظافت او د ذهن او نفس انضباط . د دغو
اوصافو په لړلو سره د ټولنی په افرادو کی
هغه پانګه پوره کیږی چه د اجتماعیت د
منځته راتګ لپاره پکار ده .

دغه ټول اخلاقی اوصاف چه وړاندی ذکر
شول د انسان د اخلاقی قوت سرچینه ده او
ترهغه چه له انسان سره د دغو اوصافو قوت
په لاس نه وی د دنیوی ژوند په پراخ ډګر
کی پرمختګ نشی کولی . د دغو اخلاقی
صفاتو مثال د پولادو په شان دی چه ذاتاً
کروړ او محکم دی او هرډول د کار وسله تری
جوړیدی شی دا جدا خبره ده چه دغه وسله
د غلط هدف لپاره استعمالیږی او که د
سپڅیلی مقصد او مرام لپاره . که انسان دیو
عالی مقصد لپاره د یوی وسلی ضرورت
احساس کړی بیابه هم دا کوشش کوی چه له
پولادو نه ئی جوړه کړی نه د نازك او
ماتیدونکی لرګی نه . دا هغه خبره ده چه د
اسلام پیغمبر صلی الله علیه وسلم وړاندی
په دی مبارك حدیث کی د تصدیق ټاپه وهلی
چه فرمائی : «خیار کم فی الجاهلیة خیارکم
فی الاسلام» . یعنی له تاسو څخه هغه خلك
چه په جاهلیت کی ښه او غوره وو ، هماغه
په اسلام کی هم ښه او غوره دی . د حدیث
مبارك مقصد دادی ، هغو خلکو چه د جاهلیت
په زمانه کی ئی د استعداد او قابلیت جوهر
درلود ، د اسلام په عصر کی هم فعال او کار
دار ثابت شول . توپیرئی یوازی همدو مره دی
چه له اسلام نه وړاندی دهغوی استعداد په
غلطو لارو او د ناوړو مقاصدو لپاره په
کارلویده او په اسلام باندی له تشرف او
ایمان راوړلونه وروسته دغه استعدادونه د
حق او حقیقت او د انسانی جامعی د خیر
ښیګنی لپاره په کار شول خو حقیقت دادی
چه ناکاره او بداخلاقه انسان نه د جاهلیت د

پاتی په (۴۸) مخ کښی

قرآنی دعوت او هیداست

یوسف علیه الصلوة والسلام وروسته له هغه چه خپل موقف ئی ثابت وگانه او درك ئی کړه چه د ده وینا دده د مخاطبینو په ذهن کی ځای نیولی شی ، ورته ئی وویل :
ماتعبدون من دونه الا اسماء سمیتموها انتم وابآؤکم ما انزل الله بهامن سلطن .
(یوسف ـ ۴۰)
هغه شیان چه تاسو ئی پرستش کوئ یوازی یوڅوتش نومونه دی چه تاسو او ستاسو پلار نیکه ایښودی دی . الله تعالی جل جلاله د هغو په باب هیڅ کوم سندنه دی نازل کړی .
یعنی دا هغه نومونه دی چه هیڅ مسمی ئی نه شته . دا هغه نومونه دی چه هیڅ حقیقت ئی نه شته . ځینی نومونه یونانیانو تصنیف کړی ، ځینی بیابت پرستو ملتونو خپلو اخلافوته پری ایښی او په دی ډول ځینو بیابیله حقیقت نه د ځان له پاره داوهامو بتان جوړ کړی او په هغو باندی ئی ډول ډول نومونه ایښی او بیلا بیلی وظیفی ئی ورته منسوب کړی دی او په نړی کی د هر ملت د پاره یو مستقل علم الاصنام یعنی میتالوژی تیاره شوی ده .

د قرآن مجید اعجاز دادی چه د دغو و همی شیانو له پاره ئی چه هیڅ وجود ئی نه درلود د «اسماء» لفظ استعمال کړ . هغه خلك چه د مذاهبو تاریخ مطالعه کوی او د علم الاصنام یعنی میتالوژی سره سروکار لری ، د «اسماء» د کلمی په معجزانه حیثیت ډیر ښه پوهیږی . دا یوازی تش نومونه دی ، دغه معبودان چیرته او کله پیدا شوی دی ؟ د

باران او د جګړې خدایان چیرته او کله موجود ؤو ؟ او د جمال او محبت معبودانو په کوم ځای او کومه زمانه کی حکومت درلود ؟ دغه معبودانو په کومه پیړۍ کښی ژوند کاوه ؟ د هغوی وجود د اوهامو او ظنونو له ټاټوبی بهرکله ثابت شوی دی ؟

قرآن کریم و فرمایل :

چه دا یوازی تش نومونه دی چه تاسو او ستاسو پلار نیکه له خپل ځان نه خوښ کړی دی . د الله تعالی جل جلاله له طرفه د هغو په باب هیڅ نص او سند نه دی نازل شوی .

د قرآن دا معجزه به تر آبده باقی وی او نړی ته به ثابته وی چه بت پرستی یوازی د تشونومونو پرستش دی او بتان یوازی خالی نومونه دی چهٔ قرآن عظیم الشان ورته درسوایی تشت له بامه راغورځولی او نړۍ والوته ئی اعلام کړی ده چه :

ان هی إلی اسمآء سمیتموها .

قرآنی دعوت او هدایت

وړاندی مو وویل چه یوسف علیه السلام د خوبونو د تعبیر کمال یوازی د الله تعالی له طرفه په خپل ځان باندی یو رحمت او فضل وګانه او په دغه سلسله کښی خپل لیاقت او شرکت په کلکه سره رد کړ او خپل مخاطبین ئی په دی خبر کړل چه د خوبونو د تعبیر استعداد او علم ماته د کایناتو خالق راکړی دی .

دلته دا پوښتنه پیدا کیږی چه ولی زما رب ماته دغه علم راکړ ؟ د دعوت الی الله لورته د خلکو د ذهن دا ړولو دیوی ښی طریقی راز د یوسف علیه السلام په خبره کی پروت دی . په حقیقت کی دا یوه اوږ ده او له کړلیچونو ډکه لار وه چه یوسف علیه السلام د الله تعالی د اعطا کړی رسا فکر ، خپل حکمت او بصیرت ، ځلاند روحانیت او پاك ضمیر په وسیله دسترګو په رپ کی ووهله . دغه لار چه که سل کلنه جاده ورته وویل شی نو مبالغه به نه وی او پوهان او فلاسفه ئی په لنډولو کلونه کلونه کړ او ونه او ربړونه ګالی ، د یوسف علیه السلام پیغمبرانه قوت په څو دقیقو کی لنډه کړه او ځان ئی خپل منزل ته ورساوه او وئی فرمایل :

ذلکمامما علمنی ربی ـ انی ترکت ملة قوم لا یؤمنون بالله وهم بالاخرة هم کفرون .

(یوسف ـ ۳۷)

یعنی داهغه خبری دی چه زما رب ماته رازده کړی دی . ما د هغو خلکو مسلك پری ایښی چه په الله تعالی ایمان نه راوړی او له آخرت نه انکار کوی .

له دی وینا نه وروسته یوسف علیه السلام احساس کړه چه د امنیت موقف ئی ګټلی او یو اوچت او عالی مقام ته رسیدلی دی . هغه

په دی اطمینان سره ، چه د یو او چت غر په سر ولاړدی او له هغه ځایه په ځمکه ولاړو ملګرو ته خطاب کوی ، خپله وینا پیل کړه :

یا صاحبی السجن ارباب متفرقون خیر
ام الله الواحد القهار .

ای زما د زندان ملګرو . (فکرو کړی چه) بیلا بیل باداران او اربابان به ښه وی او که واحد او غالب الله تعالی .

که یوسف علیه السلام دغه خبره وړاندی کړی وی نو د هغه د ملګرو په غوږونو به یو دروند باروی ، نه به ئی زړونو منلی او نه به ئی ذهنونو زغملی ، خو دغه وخت ئی شرایط برابر شوی وو او دا د هغه حق وو چه له خپلو ملګرو پوښتنه وکړی چه ای زما زندانی ملګرو ووائی چه د متفرق اربابانو او بادارانو اطاعت به ښه وی او که د واحد او لاشریك او په هر څه غالب الله تعالی فرمانبرداری او بندګی به ښه وی .

دلته د کلام د تقدیم او تاخیر او د قرآن کریم د کلام ترتیب هم باید په نظر کی ونیول شی . که د کلام پخوانی سلسله روانه ساتل شوی وی ، نویوه و چه او بی محتوا خبره به معلومیده خو حضرت یوسف علیه-السلام د خپل بصیرت او د خپلو مخاطبینو په ځیرو باندی د اطمینان له آثارو څخه په معلومیدو سره پوه شو چه اوس دا خلك دی آسمانی غږ ته غوږ نیولی ناست دی . دا د الله تعالی پیغام دی چه د خپلو پیغمبرانو په وسیله ئی خلکو ته ابلاغوی وئی فرمایل : یا

صاحبی السجن ارباب متفرقون خیر
ام الله الواحد القهار ؟

د کلام دغی لهجی ته وګورئ چه له پخوانی لهجی او سبك سره څومره توپیرلری . په پخوانی لهجه کی ئی چه ویل «ذلکما مما علمنی ربی» یوه نرمه لهجه وه او یو ځانګړی سوز او ګداز پکی پروت ؤ مګر په اوسنی سبك کی چه وئی ویل : آیا دا بیل بیل باداران ښه دی که واحد او غالب الله تعالی ؟ دا یو قوت او اعتماد ښکارندوی دی . له دی کلام څخه په ځان باندی د اعتماد اظهار له ورایه ځلیږی او همدغه لهجه او همدغه سبك دی چه مخاطبین ورباندی په آسانی سره پوهیدلی شو .

که یوسف علیه السلام په دی ځای کی د منطق او علم کلام په ژبه خبری کړی وی ، نو د مخاطبینو په ذهن کی به ئی هیڅ ځای هم نه ؤ نیولی .

په وړاندی بحث کښی موولوستل چه حضرت یوسف علیه السلام د عظمت او د بدبی نه په ډك آواز خپل ملګری مخاطب کړل او په ښکاره او په څرګندو ټکو کښی ئی ورته د دوئ د وهمی او تخیلی اربابانو حقیقت مخی

ته کیښود او ورته ئی وویل چه :

ما تعبدون من دونه الا اسماء سمیتموها انتم وآبآؤکم ما انزل الله بهامن سلطن .

یعنی هغه شیان چه تاسوئی د الله جل جلاله د ذات نه پرته پرستش کوئ یوازی او یوازی تش نو مونه دی چهٔ تاسو او ستاسو پلارنیکه له ځانه جوړ کړی دی الله تعالی جل جلاله د هغوی په باب هیڅ نص نه دی نازل کړی .

یوسف علیه السلام د دغه بیان د څرگندو لو په وخت کښی دا احساس کړی وه چه د مخاطبینو د زړونو او ذهنونو خلا د دی مدللی پوښتنی په واسطه پاکه شوی چه ورته ئی وویل :

یا صاحبی السجن ارباب متفرقون خیر ام الله الواحد القهار .

او اوس د حکمت تقاضا داده چه باید د الله تعالی جل جلاله د توحید بحث نور له دی زیات اوږ د او پیچلی نه شی . یو حاذق طبیب په دی ډیر ښه پوهیږی چه ناروغ ته څومره خواړه او څومره داروگان په کار دی ، یوازی طبیب دی چه د مریض د خوړو او داروگانو اندازه ورته معلومه ده . همدارنگه د یو مجرب او پوه داعی چه دالله تعالیٰ جل جلاله د الهام له نعمت نه برخورداره وی او الله تعالی جل جلاله ورته د دین لوری ته د دعوت کولو صلاحیت او استعداد ورکړی وی ډیر ښه پوهیږی چهٔ د خپل منزل مقصود نه باید وړاندی لاړ نه شی .

همدا وجه ده چه که داعی د دین لوری تهٔ دعوت او تبلیغ د اصولو او قواعدو په تنگ چاپیریال کښی را حصار کړی ، په حقیقت کښی د دعوت د کار سپیڅلی وظیفه محدود وی . دعوت خود نشاط جذبی او د وخت د تازگی متقاضی دی چه باید په روڼ تندی او خوندورو جذباتی الفاظو ، د وخت او شرایطو په پام کی نیولو سره سم وړاندی شی او که هغه یوازی د نورو ټاکلو اصولو او ضوابطو تابع شی نو په دعوت او داعی دواړو باندی به د ظلم او ستم مرتکب شوی یو .

حقانیت مسلک اهلحدیث در روشنی حقایق تاریخی

قسط (۳)

سُنت خُلفاء :

بـایـد دید که روش خلفـاء راشدین در موقـع پیش آمد اختلاف چگونه بود ؟

۱ ـ از همه اولتر اختلاف درین امر پیش آمد که آیا آنحضرت صلی الله علیه وسلم را موت لاحق شده است یا نه ؟ حضرت عمر رضی الله تعالی عنه فرمود «والله مامات رسول الله ـ بخاری ٥۱۷» قسم به آفرید گار جهان که پیامبر صلی الله علیه وسلم را موت طاری نشده است ، حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه عندالموقع آیهٔ قرآنکریم «انك میت وانهم میتون» را در تردید رائی و نظریهٔ عمر فاروق رضی الله عنه پیش نمود ، پس از آن همگی به وفات آنحضرت صلی الله علیه وسلم یقین و باور نمودند «بخاری»

۲ ـ اختلاف دوم در موقع انتخاب و انتصاب خلیفه پش آمد ، انصار گفت : «منا امیر ومنکم امیر «ایضاً» یعنی خلیفه ما (انصار) از خود مان باشد و خلیفهٔ شما (مهاجرین) ازمیان خودتان باشد ، حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه حدیث «الائمة من قریش» را پیش نمود ـ فلما سمعوا حدیث الائمة من قریش رجعوا من ذالك از عنوا ـ فتح الباری ص ۳٦٥ ـ ج ۱۴» یعنی باشنیدن این حدیث فورا از نظریهٔ خود رجوع نمودند و در برابر

فرمان پیامبر صلی الله علیه وسلم گردن نهادند

۳ ـ پس از آن در مورد دفن آنحضرت صلی الله علیه وسلم اختلاف رونما شد که در کجا دفن کرده شود حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه فرمود ـ من از رسول الله صلی الله علیه وسلم شنیده ام که میگفت : «مایقبض نبی الا دفن حیث یقبض» (ترمذی ـ ابن ماجه) نبی در هرجایکه روح آن قبض می شود در همان جا باید دفن گردد ـ نظر باین دستور زنده وازرندهٔ پیامبر بزرگوار اسلام آنحضرت صلی الله علیه وسلم را در حجره مبارك دفن نمودند .

۴ ـ بعد از آن اختلاف در مورد نوعیت قبر آنحضرت صلی الله علیه وسلم پیش آمد صورت اختلاف باینطور بود که قبر آنحضرت صلی الله علیه وسلم بغلی باشد و یا صندوقی «ابن ماجه» . درین گفتگو بودند که موافقین به حفر قبر بغلی از دیگران سبقت نمودند و قبر بغلی تیار شد و باینطور بمقتضائی حکمت الهی همگی به تعمیل حدیث نبوی «اللحدلنا» (ابو داود وغیره) ـ توفیق یافتند .

۵ ـ بعد از استحکام و تمکین خلافت وارثین پیامبر صلی الله علیه وسلم هر کدام به نوبهٔ خود به مطالبهٔ حصه و حقوق خود از خلیفهٔ وقت پرداختند ، از واج مطهرات قصد نمودند که بخاطر حصول و بدست آوری حصص خود حضرت عثمان رضی الله عنه را نزد ابوبکر صدیق بفرستند (بخاری و سلم) حضرت فاطمه و حضرت عباس هر کدام حصهٔ خود را طلب نمودند (بخاری ص ۷۲۷) حضرت ابوبکر صدیق پیش روی همگی حدیثی «لانورث ماترکنا صدقة» را عرضه نمود ـ باشنیدن این حدیث سکوت و خاموشی برهمگی طاری شد حتی حضرت فاطمه رضی الله عنها که در ابتداء از خود اظهار رنجش و نارضایگی نشان داده بود بعد ها اونیز راضی شد (بیهقی ص ۳۰۱ ـ ج ٦) .

٦ ـ خلیفهٔ اول ابوبکر صدیق رضی الله عنه هنگامیکه علیه مانعین زکوة به قتال عزم مصمم نمود حضرت عمر رضی الله عنه مانع شد و حدیث نبوی «امرت ان اقاتل الناس حتی یشهدوا» (بخاری ۲) را پیش نمود ـ که این مردم کلمهٔ شهادت را می خوانند پس قتال بآنها چگونه جواز دارد ؟ حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه حدیث دیگر را که در آن «الابحق الاسلام» آمده است پیش نمود ، ابوبکر صدیق بااستدلال ازین حدیث عمر رضی الله عنه را متوجه ساخت که زکاة حق اسلام

است و بامانعین آن می توان جنگید ـ فتح الباری ـ میگوید : فلم یلتفت ابوبکر الی مشورة عمر رضی الله عنه اذا کان عنده حکم رسول الله . (صحیح بخاری ص ۱۰۹ ج ۲) .

یعنی چونکه نزد ابوبکر صدیق حدیث نبوی موجود بود بناء استدلال عمر رضی الله عنه را مسترد نمود . این «آنچه که در فوق از آن ذکر به عمل آمد» بود سنن خلیفهٔ را شد اول ، حالا روش خلیفهٔ دوم را ملاحظه فرمائید :

۷ ـ در آواخر خلافت عمر رضی الله عنه برایش مشوره داده شد که طوریکه ابوبکر صدیق رضی الله عنه تو (عمر) را قبل از وفات خود به عنوان خلیفه نامزد نموده بود ، تو نیز کسی را به عنوان خلیفه و جانشین خود نامزد نما ، حضرت عمر رضی الله عنه در جواب فرمود :

«ان لا استخلف فان النبی صلی الله علیه وسلم لم یستخلف وان استخلف فان ابا بکر قد استخلف» (صحیح مسلم ص ۱۲۰ ج ۲)

یعنی اگر من کسی را به عنوان خلیفه مقرر نه نمایم درین صورت عامل و پیرو سنت رسول الله صلی الله علیه وسلم می باشم و اگر خلیفه مقرر نمایم درین صورت عامل به سنت ابوبکر صدیق شمر ده می شوم ، چونکه عمل به سنت رسول الله صلی الله علیه وسلم افضل و بهتر است ازین لحاظ عمر فاروق کدام شخص خاص را به عنوان خلیفه نامزد نه نمود طوریکه فرزند دلبند (عمر رضی الله عنه) (عبدالله) می فرماید :

«فعلمت انه لم یکن لیعدل رسول الله صلی الله علیه وسلم احدا او انه غیر مستخلف» (حوالهٔ مذکور) یعنی من دانستم که عمر رضی الله عنه کسی را مساوی و برابر با پیامبر اسلام قرار نمیدهد و کسی را خلیفه و جانشین مقرر نمیکند .

از بیانات فوق بخوبی معلوم شد که در صورت مخالف دانستن خلفاء راشدین به سنت رسول الله ، سنت آن خلیفه را می گذاشتند و سنت رسول الله را لازم می گرفتند ، بیائید همه باهم یك واقعهٔ حضرت علی رضی الله عنه و حضرت عثمان رضی اله عنه را که ایشان نیز از جملهٔ خلفاء راشدین اند استماع نمائیم .

۸ ـ ولید بن عقبه والی کوفه بود در نتیجهٔ نوشیدن شراب برایش بی هوشی طاری شد ، و در حالت نشه گرفتار شد ، خلیفهٔ ثالث (حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه) بعد از غور و بررسی و تحقیق در پیرامون مقدمه .

به حضرت علی حکم نمود که حد مقرره

از جانب شریعت را برولید جاری نماید .

عبدالله ابن جعفر شروع کرد به دره زدن ولید و حضرت علی رضی الله عنه تعداد دره ها را شمار می نمود وقتیکه تعداد ضربات آن به چهل دره رسید حضرت علی رضی الله عنه به عبدالله ابن جعفر گفت ـ کافی است .

«قال امسك جلد النبی صلی الله علیه وسلم و ابوبکر اربعین و عمر ثمانین و کل سنة و هذا احب الی» (صحیح مسلم ص ۲۷ ج ۲)

یعنی بیشتر ازین نه زن ، زیرا از عهد نبوی تا خلافت صدیقی مقدار حد شارب خمر چهل دره بود و حضرت عمر رضی الله عنه تعداد آنرا به هشتاد دره بالغ گردانید ، نزد من حد مروجهٔ عهد نبوی زیاد محبوب و پسندیده است .

آنچه درین مقام غور طلب و نقطهٔ عطف و قابل توجه است اینست که : حضرت علی رضی الله عنه هر دو را سنت قرار داد اما سنت نبوی را به سنت فاروقی فوقیت و بالادستی بخشید ، در حالیکه حضرت عمر رضی الله عنه به صلاح و مشورهٔ حضرت علی رضی الله عنه تعداد دره ها را هشتاد تعیین نموده بود (ملاحظه فرمائید موطاء) هکذا حضرت عثمان خلیفهٔ راشد نیز به چهل دره سکوت نموده رضامندی خود را اظهار نمود .

نتیجه :

از بیانات فوق بطور صاف و روشن ثابت می شود که مقدم کردن و حق اولیت دادن قول و فعل رسول الله صلی الله علیه وسلم به تمام اقوال و افعال طریقه و نهج خلفاء راشدین مهدین بود و راه و روش جماعت اهلحدیث «کثر الله سوادهم» نیز چنین است «اذا جاء نهر الله بطل نهر معقل»

ملاحظة :

یکسلسله کارها و اموری را که خلفائی راشدین روی مصلحت های سیاسی و ضرورت های وقتی انجام داده اند ، برای ما اسوه و دلیل راه شده نمیتواند ملاحظه فرمائید ، که عبدالله بن عمر وقتیکه به شامی ها فتوای صحت حج تمتع را داد آنها (شامی ها) گفتند ـ پدر بزرگوار شما ازین کار (حج تمتع) منع میکرد شما چگونه به جواز و ارتکاب آن فتوی میدهید ؟

عبدالله بن عمر در جواب گفت :

«امر أبی یتبع ام امر النبی صلی الله علیه وسلم (ترمذی) یعنی آیا اتباع پدر من واجب است و یا اتباع و پیروی رسول الله صلی الله علیه وسلم ؟

پس معلوم شد که ملحوظ داشتن سنت پیامبر صلی الله علیه وسلم در پیش آمد هر امر و عمل کردن مطابق آن و جیبه و فریضهٔ هر مسلمان است .

به مصطفی برسان خویش را که دین همه او است -

اگر باو نرسیدی تمام بو لهبی است -

خلفاء راشدین در پیش آمد هر امر حدیث نبوی را جستجو میکردند :

نزد ابوبکر صدیق رضی الله عنه «جده ای» آمد و دربارهٔ حصه و نصیب خود از میراث نوهٔ خود سوأل نمود . ابوبکر صدیق را متعلق این مسئله حدیث پیامبر صلی الله علیه وسلم یاد نبود ، از صحابهٔ کرام پرسید ، دو صحابی بنام های مغیره بن شعبة رضی الله عنه و محمد بن مسلمه رضی الله عنه برای ابوبکر صدیق رضی الله عنه حدیث نبوی را در مورد میراث جده شنوانیدند ، باینطور که آنحضرت صلی الله علیه وسلم برای جده ششم حصه از میراث تعیین نموده است .

پس از آن ابوبکر صدیق رضی الله عنه مطابق این حدیث برای جده فیصله نمود (موطاء و سنن اربعه) .

در داد گاه عمر رضی الله عنه مقدمهٔ ای باین عنوان پیش شد که از دیت شوهر مقتول برای بیوهٔ آن حصه داده شود و یا خیر ؟ حضرت عمر رضی الله عنه فتوی بنفی آن دادند ، ضحاك بن سفیان رضی الله عنه از فتوای عمر رضی الله عنه اطلاع یافت و در منی میان ضحاك و عمر رضی الله عنه ملاقات صورت گرفت ، ضحاك به عمر رضی الله عنه گفت : نزد من نوشتهٔ آنحضرت صلی الله علیه وسلم موجود است مبنی براینکه پیامبر صلی الله علیه وسلم برای بیوهٔ أشیم ضبابی بعد از کشته شدن شوهرش بدادن حصهٔ از دیت آن (اشیم ضبابی) حکم داده است .

باشنیدن این خبر حضرت عمر رضی الله عنه فوراً از فتوای خود رجوع کرد و موافق حدیث پیامبر صلی الله علیه وسلم فتوی خود را صادر نمود (موطاء و سنن) .

رائی حضرت عثمان رضی الله عنه در مورد گذرانیدن عدت متوفی عنها زوجها این بودکه : مطابق میل و رغبت خودش هرجایکه خواسته باشد می تواند عدت خود را سپری نماید ، آخر الامر حضرت عثمان رضی الله عنه در صدد تلاش و بدست آوری حدیث نبوی در مورد این مسئله گردید تااینکه فریفه رضی الله عنه بنت مالك خواهر ابو سعید خدری رضی الله عنه واقعه و داستان خود را به

حضرت عثمان رضی الله عنه باینطور باز گو نمود که :

شوهر من قتل کرده شده بود ، و من در مورد سپری نمودن عدت خود از پیامبر صلی الله علیه وسلم پرسیدم که ای رسول خدا من عدت خود را در کجا سپری نمایم .

آنحضرت صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمود : درخانۀ شوهر خود - پس از آن حضرت عثمان رضی الله عنه مطابق این حدیث فیصله کردند (مؤطا و سنن اربعه) .

یك گروه از مرتدین را بنزد حضرت علی آوردند ایشان به زنده سوزانیدن آنها حکم صادر نمود ، ابن عباس ازین واقعه اطلاع یافت . او موقف خود را در قسمت حکم مرتد بااستدلال از حدیث پیامبر صلی الله علیه وسلم باینطور اعلان نمود .

«قال النبی صلی الله علیه وسلم : من بدل دینه فاقتلوه» یعنی فرمان پیامبر صلی الله علیه وسلم در مورد کسانیکه مرتد می شوند این است که باشمشیر و تیر و تفنگ کشته شوند نه باافگندن در آتش ، حضرت علی رضی الله عنه این راشنید و گفت : صدق ابن عباس (ترمذی)

باینطور واقعات زیادی از خلفاء راشدین درکتب حدیث موجود است که ایشان در فیصله ها واصدار احکامات خود دو چار اشتباهات شدند ولی بمجرد پی بردن به اشتباه و غلطی خود بلا درنگ بسوی حدیث پیامبر صلی الله علیه وسلم رجوع نمودند .

طریق عمل و نحوهٔ کار جماعت اهلحدیث نیز بفضل و مهربانی ذات باری تعالی به همان طوری است که خلفاء راشدین و سلف صالحین بآن بودند - مادر مقابل حدیث نبوی به رائی و قول هیچکسی ارزش قایل نیستیم البته به عرفت شأن و وقار و بزرگی ائمه کرام قایل هستیم ، و میگوئیم :

آن امامان که کردند اجتهاد - رحمت حق بر روان آن جمله باد .

تذکره :

تقرر شریعت حق خاصه و بلاشریك خداوند است که ذریعه و واسطۀ ابلاغ و رسانیدن او ، تا انسانها و بندگان الهی ، پیامبران معصوم می باشند - غیر نبی چونکه معصوم شده نمیتواند ازین وجه نسبت به مسایل قیاسی او بطور جزم و یقین تضمین صحت و ثواب را ادعا نمیشود ، تا زمانیکه مهر موافقت پیامبر صلی الله علیه وسلم برآن نهاده نشود ، زیرا اینکه حساب اعمال و تعلق ثواب و عذاب برآن فقط از جانب خدا است باین خاطر محبت باخودش و حصول جنت را

فقط در اتباع و پیروی پیامبر صلی الله علیه وسلم موقوف نموده است .

خـــــلاف پیمبر کــــسی راه گزید
که هرگیز به منزل نخواهد رسید .

اجماع:

دیده شده است که اهلحدیث را منکر اجماع میگویند ولی این سخن از عدل و انصاف‌بدور است انسان نباید دامن عدل و انصاف را در هیچ حالتی از دست بدهد اجماع خواه بسیط باشد و یا مرکب برای اهل آن اتحاد زمانه لازم و ضروری است زیرا اینکه اجماع عبارت است از اختلاف ، پس اتحاد زمانهٔ اختلاف کننده گان امری است لازم و ضروری ، در غیر آن تا قیامت انعقاد اجماع ممکن نیست ، روی همین علت است که امام احمد بن حنبل می فرماید «من ادعی الاجماع فقد کذب» (محلی ابن خرم ص ۲۴٦ جلد ۲ و شرح مسلم الثبوت صفحه ۲۹۴) . یعنی اگر کسی ادعاء نماید که دریك امر از امور اجماع شده است دروغ گفته است . ابن عربی صرف اجماع صحابهٔ کرام را معتبر می شمارد طوریکه در فتوحات نوشته است «والاجماع اجماع الصحابة بعد النبی صلی الله علیه وسلم لا غیر» (صفحه ۱۸۲ ـ جلد ۲)

نمیدانیم که قائلین اجماع دربابت احمد ابن حنبل و شیخ ابن عربی چه نظر دارند ؟

قیاس واجتهاد :

اهلحدیث را منکر قیاس نیز میگویند ، حال اینکه اهلحدیث از قیاس و اجتهاد صحیح و درست منکر نیست ـ بقول امام اوزاعی ، کلنایری ـ «الرد علی اعداء اهلحدیث لابن قتیبة صفحه ٦۲» البته فرق اهلحدیث درین مورد با دیگران در اینست که :

اهلحدیث میگویند : باید آحادیث نبوی به عنوان اصل و مقیس علیه قرار داده شود استنباط مسایل از آن و در پرتو آن صورت گیرد ، لیکن باتأسف باید گفت که این اصل کاملا و یکسره متروك قرار داده شده است ، واصلی ساختگی و تراشیده شخصیت های خواصی و معهود دیگری را به عنوان معیار و مقیس علیه نهاده شده است ، طوریکه به واقعیت امر شاه ولی الله محدث دهلوی درحجته الله (صفحه ۱٦۰ جلد ۱) صراحت نموده است .

ونام این اصل خود ساخته و خود بافتهٔ خویش را حمل النظیر علی النظیر وتفریح برتفریح گذاشتند ومسایل را براساس همین اصل استنباط نمودند که نتیجهٔ آن در صورت تعیین مذهب رونما گردید بخاطر تنویر و توضیح این امر چند مثال عرض می نمایم .

۱ ـ یکنفر بازنی به عقد اجاره زنا نمود بعد از آن اجرت خود را گرفت میگویند این اجاره اگرچه فاسد است و سبب اجرت نیز فعل حرام و ناجایز است لیکن چونکه یك اصل و قاعده تقرر یافته است براینکه :

«اجر المثل طیب» یعنی اجر مثل طیب و خوشگوار می باشد ، بناء اجرت این زن زانیه دربدل زناکاری اش ، نزد امام ابوحنیفة (رحمة الله علیه) حلال است ، البته اگر پول را بغیر عقد اجاره گرفته باشد در آنصورت حرام است .

(شامی ص ۲۸ ـ جلد ٥ ـ طبع هند)

گذشته از آن زنا بازن مستأجره موجب حد نمی باشد

(کنز و تنویر)

حالااینکه در حدیث مسلم در متعلق هر قسم مهر بغی لفظ خبیث وارد شده است و در حدیث بخاری از مهر بغی بطور صاف و واضح نهی شده است ، و در دین محمدی و شریعت مصطفوی هیچ زانی ذی عقل مستثنی قرار داده نشده است .

۲ ـ یك اصل و قاعدهٔ دیگری مقرر نموده اند ، باینطور که بناء ضعیف برقوی نمی شود بناء اگر کدام امام مسافر در نماز قصر نه کرد و اتمام نمود ، پس نماز ، نماز گذار انیکه مقیم اند درست نمی شود ، بخاطریکه امام مسافر در دورکعت اخیر متنفل بود ، چونکه فرض از نفل قوی است ، لهذا نظر باین اصل و قاعده مقتدی فرض گذار باید نماز خود را دوباره اعاده کند ـ حالااینکه در حدیث صحیحین آمده است : حضرت معاذ نماز عشأ را در اقتداء پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم اداء میکرد ، بعد از آن به مسجد محله خود میرفت و برای مردم امامت نماز را أنجام میداد ، ظاهر و واضح است که حضرت معاذ در این بار دوم متنفل بود ـ لکن مقتدیین معاذ را به اعادهٔ نماز شان از دربار رسالت کدام حکم و فرمان متوجه نشد .

۳ ـ یك قاعدهٔ بی اصل و بی بنیاد دیگری مقرر نموده اند باین عنوان که : الحاق ناقص به کامل جایز نیست ، یعنی چیزیکه کامل واجب شده است توسط ناقص ادانمی شود ، بناء اگر کسی نماز صبح را در وقتی خواند که بعد از خواندن یك رکعت آفتاب طلوع نمود ، اگر رکعت را بخواند نماز آن درست نمی شود ، حالااینکه در حدیث صحیح وارد شده است : من ادرك رکعته من الفجر قبل ان تطلع الشمس فقد ادرك : کسیکه پیش از طلوع آفتاب یك رکعت نماز فجر را خواند ، رکعت دومی او نیز صحیح می شود و

نماز آن تمام می شود .

اهلحدیث ازین قبیل اصول مستخرجهٔ متحدثهٔ که اصل و اساس شرعی ندارد انکار کرده است و میکند امامسایلیکه از قرآن و حدیث مستنبط و مستخرج شده باشد هیچگاه از آن انکار نه نموده است و نخواهد نمود .

دفع إلزام:

باقی این الزام که بعضی مسایل اهلحدیث مخالف مذاهب متفقهٔ اربعه است ، محض برمبنائی تعصب وکوتاه نظری است ،

آیا متأخرین احناف در مسئله تحلیف شهود خلاف مذهب متفقه ائمه اربعه مطابق مذهب ابن ابی لیلی فتوی نداده اند ؟ دیده شود کتاب ابن نجیم (اشباه و نظائر ـ صفحه ١٦٠)

پس هرگاه حق دائر و محصور در ائمه اربعه باشد و مخالفت از ایشان ناجایز و نادرست باشد ـ در مسئله مذکور (تحلیف شهود) مذهب ابن ابی لیلی را که مخالف بانظریه و فیصلهٔ ائمه اربعه است چرا اختیار نمودند ؟ در حالیکه مخالفت قاضی ابی لیلی باامام ابوحنیفه مشهور و معروف است ، در نتیجه اصرار و کوشش آن بود که حکومت وقت امام ابو حنیفه رحمة الله علیه را از فتوی دادن در مسایل منع نمود .

دفع ایراد :

هرگاه از طرف اهلحدیث از کتب متقدمین وجود اهلحدیث در قرون گذشته و سابق پیش کرده می شود مقابلینی در مقام مخالفت و انکار میگویند ، اهلحدیث در سابق کدام مذهب نبود ، امروز اهلحدیث بکسانی گفته می شود که به آمین بالجهر ، رفع یدین در نماز وقرءة فاتحه خلف الامام قایل و عامل باشند . در جواب این شبهه و این ایراد باید عرض نمود که :

اقوال و عباراتیکه در شماره های قبلی این مضمون از امام شافعی و احمد ابن حنبل درین سلسله اراء کرده شده است در آنها بطور واضح و نمایان لفظ «مذهب اهلحدیث» موجود است .

و اینکه مسلمانان سرحدات افریقا همگی پیرو مذهب اهلحدیث بودند در ماقبل بحوالهٔ کتاب «اصول دین» واضح گردیده است .

قاضی عیاض مالکی در تشریح و تفسیر این قول امام احمد ابن حنبل «ان لم یکونوا اهلحدیث الحدیث فلأدری من هم» می نویسد اراد احمد اهل السنة والجماعة ومن یعتقد مذهب اهلحدیث (شرح صحیح مسلم ص ۴۲ جلد ۱) .

پیدایش و زیست قاضی عیاض در قرن

بقیه درعقب پشتی



التقيد ، قبول القول من غير معرفة دليله

بيلــه دليلــه پــه لار ځــم ماپــري قدم ايښى دى
ستانه تپوس کړم چه مى وران او که مى سم ايښى دى

ستــرگى مــى پټــى کړى غورځيږم يم روان په کندو
دا کــوم ظالــم راتــه پــداسى گفــتار بم ايښى دى

دومــره ځوك نشته چه لاس راکړى سيلابونه مى وړى
ښــه درتــه پټــه ده پــه ستــرگودى تورتم ايښى دى

داراتــه وايــه چــه ورځــه پــه لار تپوس مــه کوه
دا خــوشحالــى ده کــه په سردى راته غم ايښى دى

څنگــه بــه بــى تپــوســه ورســم در بارته ديار
غــواړم جــواب واعظــه مــاردى په شکم ايښى دى

دواړه خپى بيخ کښى پريکړه څه په لار په منډو منډو
دا کــوم منطق دى چــه پــدى تبليغ دى فم ايښى دى

دوه تحفى تالــه يار درکړى وى د عيش دپاره
خــوغير غماز درتــه پدى عــوض لــړم ايـښى دى

غـوارم جـواب کـه راکـوی بیا بـه عمل پری کوی

مـا انتظار کښی پـه وحدت درتـه قسم ایـښی دی

وحـدت ملت واحـده نـوم داسـلام یـادیـده

اوس افتـراق کښی ورتـه هـر چا خپل قلم ایښی دی

«درویشـه» څلـه خفـه کیـږی بی ریباره نه ئی

درتـه پـه زړه کښـی محبت ئـی خپل اهم ایښی دی

(درویش مردانوی)

اتحاد از نص قرآن آمده است

امـر الـزامی بـما از نـص قرآن آمده است

پـس بـدانید اتـحاد از شاخ ایمان آمده است

در مـدار نهضت هـرجا گـر نـباشد اتحاد

پنـجه حـیرت زنـاکامـی بـدندان آمده است

پـس مـبادا ذره کـس را از همانا اعـتماد

اعـتماد آن کس کند بر پول و برنان آمده است

اهـل دیـن دارد خـلاف پـافشاریـها جـهاد

کـه همـین دراصل دین از حکم رحمن آمده است

الـخصوص این نکته در اوضـاع مـا آواره گان

کـزهمان دشمن سـراپا مست وخندان آمده است

پـــافشاری صـــورتش از درك دین مخفی نـــبود
جـــزبکلی از نـــفاق ورســـم طـغیان آمده است
گـــربخون ملت بیـــچاره کـــس بـــازی کـــند
او یقین بـــرقطع نسل مـــا مسلمان آمـده است
در پس ایـــن پـــرده هـا دستی است بازی میکند
خـــاص بـــهر اخـــتلافات مسلمان آمـــده است
ورنـــه ســـاز اختلافات از تـــضاد مسلك است
ملت مـــابسته دریـــك دیـــن و ایمان آمده است
غیر ازین جز خود ستائی مصلحت یك ذره نیست
کـــه رنجش خـواهش وسواس شیطان آمده است
پـــافشاریـــها نـــوید و مـــژدهٔ نـــاکامی است
وضـــع هستی هـــرزمان زینرو پریشان آمده است
حکمت هـــم بستگی تحت بـــساط فلسفی اســت
از نـــگاه فطرت و از عـــقل و عرفان آمده است
لیك جـــای بسط تنها انـــدرین انـــدیشه نیست
بـــلکه طـــرز مختصر در تحت عنوان آمده است
ســـطح اســـلامی کـــه نظم بستگی از دست داد
پـــارچـــه پارچه از ضعیفی روبتاوان آمده است
وحـــدت و همبستگی تـــابـــود در دار اســـلام
وسعت و قـــدرت بکلی در مسلمان آمـــده است
پس زمـــانی اقتدار از دست خود خواه پارچه شد
کان عـــداوت درســـرکرسی به طغیان آمده است

کـــفر زین رو ســـاخت دست نـــابسامانی دراز
پس خـــلاف از سرمخفی پا به جولان آمده است
مکتب و درس جـــهاد از دستـــگاه افتیده شد
بلکه وضع از دسته بازی ها به هیجان آمده است
حـــرفت کسب و کـــمال میهنی پـــرتـــاب شد
که خریداری ز روس و چین و جاپان آمده است
حلـــقه انـــدرگـــوش زد بـــدبخت حـکام رذیل
خـــدمت اندر ملك و ملت روبه نسیان آمده است
ازپـــی فـــرمان بـــادارش بـــه مـــلت حمله کرد
کـــه ز قـــانون اساسی پا به طغیان آمده است
بـــسکه مشت سخت زد در رأس استعداد هـــا
واژگـــون و ســـرنشیب و روبه پایان آمده است
عـــاقبت هـــر جـــا اســـیر دست استعمار شد
پـــاکشیدن سخت مشکل سازو بحران آمده است
بـــرخی ملت در تلاش سخت بگسستن زپا است
از تعجب پنجه هـــا در زیـــر دندان آمده است
بـــربخارا یـــا وراء الـــنهر همکاری نـــه شد
شـــد بچنگال و روس آن برکه نقصان آمده است
بـــر کـــریمه، بـــرمه، بـــرتبت و برامثال شان
کـــی یـــکی درتـــحت امداد مسلمان آمده است
همچـــنان در روم یـــا ایتالـــیا غلـــفت زدیـــم
تـــاکنون او خـــار چشم مـــامسلمان آمده است

شـــرق و غـــرب ملك ترکستان در خون غوطه زد
کـــزز نـــاهمکاری خـــلق مسلمان آمـــده است
بـــاوجـــود ســـالـــها در موج خون جنگیده اند
یـــادشان کز غفلت اندر طاق نسیان آمده است
بـــاعث وضـــع فلاکت بـــارسیحون ازچـــه شد
از درون اخـــتلافـــات مسلـــمان آمـــده است

جاهل در دین وآئین مانده ایم

مـــامسلمانیم ولافـــی از مسلمانـــی زدیـــم
نـــام ازو بـــردیم امـــا خود به نادانی زدیم
در درون ســیــنه قـــدر خردل از اسلام نیست
بـــردوســـه افـــواگری سر مشق انسانی زدیم
چـــون عـــروس آن یکدو لفظ ناشناس آراستیم
روی آن در هـــر طـــرف دوکان عرفانی زدیم
نـــه نمازو نـــه نیازو نـــه جـــوازو نه فساد
جـــز خـــم و پیچ قد و جز رقص میدانی زدیم
در تـــلاش هـــر چه اما در تلاش دین نه ایم
بـــازمی بینی کـــه لاف از حکم قـــرآنی زدیم

گیـرد این نـاموس مانی دارنی دروازه ئیست
کــززبی میلی بــرو دستور ویــرانی زدیـم

حــق علیه اســم ومــود هــر هوا فرمان دهد
مــادف و چنگ و ربــاب وطبـل شهوانی زدیم

در کــجا مــود فــرنگی کرده گیتی راقشنگ
بلکه مــادر زنــدگی ســرمشق نـادانی زدیم

رســم بیــرونی نــشان انقــلاق ملت است
مــا بــه پیــغام عــدو بنـیاد ویرانی زدیم

رهــرو دشت خــیال هــر هـوا پیـما شدیم
تـخته در ســرکرده خود مرکوب شیطانی زدیم

نـفس مــان فرمان دهد ماطبق آن فرمان بریم
حکمش انــدر دفــترو دیـوان انـسانی زدیم

ذره در گــفتار ما بیچاره سیحون کینه نیست
زانــکه مــابـانـام دین، دین را بویرانی زدیم.

کس بحق خود راست ما برشکل او خندیده ایم
درحقیقت خنــده بــردستور قــرآنی زدیــم

په مقبرو باندی د جوماتونو جوړول

پدی بحث کښی غواړو چه په مقبرو باندی د جوماتونو د جوړولو په باب خپلو گرانولو ستونکو ته معلومات ورکړو ، ځکه چه ځینی خلك د دغه عمل د روا کیدو لپاره د اصحاب کهف په غار باندی د مسجد د جوړولو دلیل وړاندی کوی او ساده لوح مسلمانان ورباندی تیرباسی . پریږده چه مسئلی حقیقی بڼه را ښکاره شی .

لوی خدای د قرآن عظیم الشأن د کهف د سورة په یوویشتم آیة کښی فرمایی : وکذلك اعثرنا علیهم لیعلموا ان وعدالله حق وان الساعة لاریب فیها اذ یتنازعون بینهم امرهم فقالوا ابنوا علیهم بنیاناً ربهم اعلم بهم قال الذین غلبوا علی امرهم لنتخذن علیهم مسجداً .

ترجمه : او په دی ډول مونږ د دغه ښار خلك په دی حال خبر کړل چه خلك پوه شی چه د خدای وعده ریښتینی ده او دا چه د قیامت ساعت به بیشکه راشی (خو لږ فکر وکړی چه د فکر کولو اصلی خبره دا ده چه) هغه وخت د دوی ترمنځ په دی خبره جگړه وه چه د دغو (اصحاب کهف) سره څه باید وشی ؟ ځینو خلکو وویل : « دوی ته دی یو د یوال جوړ کړی شی او د دوی پروردگار د دوی په معامله ښه پوهیږی » لیکن کوم خلك چه په خپلو چارو باندی غالب وو هغوی وویل : « مونږ خو به په دوی باندی یوه عبادت گاه جوړه کړو »

د تاریخی روایاتو سره سم په دغه زمانه کښی د قیامت او عالم آخرت په مسئله باندی بحث په ډیر زور او شور سره روان ؤ . که څه هم د رومی سلطنت د اثر او رسوخ په وجه عامو خلکو مسیحیت قبول کړی ؤ چه د هغه په اساسی عقاید و کښی د آخرت عقیده هم شامله وه ، خو تر او سه د رومی شرك او بت پرستی او یونانی فلسفی اغیزی لا پیاوړی وی چه د هغو په وجه ډیرو خلکو یا خود آخرت نه انکار کاوه او یا لږ ترلږه په دغه باب په شك کښی پراته وو ، خو یوازنی عامل چه دغه شك او انکار یی پیاوړی کاوه ، په افسس نومی ښار کښی د یهودیانو زیاتوالی ؤ او د دوی یوه فرقه چه صدوقی

نومیده ، ډیر په ډاګه له آخرت نه منکره وه . دغې ډلې د آخرت نه د انکار لپاره د خدای د کتاب یعنې تورات تحریف شوی دلایل وړاندې کول او له مسیحي علماؤ سره د دوی په مقابل کښې څه قانع کوونکې دلایل موجود نه وو . په دغه وجه د آخرت د منکرانو تله درنه وه او په آخرت باندې په ایمان لرونکو کښې شك او تذبذب پیدا شوی ؤ . په عین همدې وخت کښې داصحاب کهف د بعث دا واقعه پیښه شوه او دا پخپله په بعث بعد الموت باندې یو نا قابل انکار ثبوت ؤ .

د کلام د محتویاتو نه په دې برخه کښې چه په آیة کښې ویل شوي دي چه یوې ډلې خلکو وویل : « مونږ به دوی ته یو دیوال جوړ کړو ، د دوی په معامله باندې د دوی پروردګار ښه پوهیږي » معلومیږي چه دغه خلك د نصاراؤ صالح خلك وو او د هغوی خیال دا و چه اصحاب کهف څنګه چه په دې غار کښې پراته دي ، په هماغه شان باید پریښودل شي او د غار خولې ته دې یو دیوال جوړ شي ، د دوی پروردګار ښه پوهیږي چه دا خلك څوك دي ؟ د کومې مرتبې خاوندان دي او د څه جزا یا پاداش مستحق دي ؟

خو د آیت په دوهمه برخه کښې دیادې شوې ډلې خلك چه فرمایي : « هغه کسان چه په خپلو چارو باندې غالب وو » هغه کسان وو چه د رومي سلطنت د اقتدار خاوندان او د مسیحي کلیسا مذهبي پیشوایان وو . د دوی په مقابله کښې د صالحې عقیدې لرونکو عیسائیانو خبره نه چلیده ، ځکه چه د پنځمې صدۍ په منځ کښې د عامو عیسائیانو او په تیره بیا په رومن کاتولیك کلیسا کښې د شرك ، اولیاء پرستۍ او غیر پرستۍ زور مخ په وړاندې روان ؤ . د بزرګانو د استانو (دربارونو) عبادتونه کیدل او په کلیساګانو کښې د مسیح علیه السلام ، حضرت مریم او حواریونو مجسمې ایښودل شوې وې .

د اصحاب کهف د بعثت نه څوکاله مخکې یعنې په ۴۳۱ میلادي کال کښې د ټولې عیسایي نړۍ د مذهبي پیشوایانو یوه جرګه په همدې افسس نومي ښار کښې جوړه شوه چه په هغې کښې د مسیح علیه السلام الوهیت او د خدای د مور په حیث (نعوذ بالله) د حضرت مریم په باب عقیده د کلیسا سرکاري عقیده ومنل شوه .

د دغه تاریخ له دغه بیان نه وروسته دا خبره څرګندیږي چه د (الذین غلبوا علی امرهم) نه مراد هغه خلك دي چه د مسیح علیه السلام د رښتینو پیروانو په مقابل کښې هغه وخت د عیسایانو مشران او رهنمایان شوي وو او د خلکو د مذهبي او سیاسي چارو واګې د دوی په لاس کښې وې او همد وی په اساسي ډول د شرك مخکښان وو او دوی فیصله وکړه چه په اصحاب کهف دې مقبره جوړه شي او دغه ځای دې عبادتګاه شي .

خو افسوس په دې خبره دی چه ځینو مسلمانانو د قرآن مجید د دې مبارك آیت مفهوم بیخي اړولی او دغه موضوع د دې خبرې د پاره دلیل راوړي چه د صالحانو او اولیاؤ په قبرونو باندې عمارتونه او جوماتونه جوړول جایز دي ! حال دا چه په دې آیت

کښې قرآن عظیم الشان د هغوی هغې گمراهۍ ته اشاره کوی چه کومې نخښې چه دغو ظالمانو ته د بعث بعد الموت او د آخرت د امکان د یقین ورکولو لپاره وربښودل شوی وی ، هغوی د شرك د ارتکاب لپاره یوه ښه موقع او دلیل وگانه او وئی ویل چه دولیانو د عبادت د پاره یو بل دلیل په لاس راغی . نو آخر ددی آیة نه د صالحانو په قبرونو باندی د جوماتونو د جوړولو لپاره څنگه دلیل اخیستی شی ، په داسی حال کښې چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ارشادات په قبرونو باندی د مسجدونو (جوماتونو) د جوړولو د منع کولو لپاره موجودی دی :

١ ـ لعن الله تعالی زائرات القبور و المتخذین علیها المساجد والسرج .

(احمد ـ ترمذی ، ابوداود ـ نسایی ـ ابن ماجه)

یعنی الله تعالی لعنت فرمایلی دی په همیشه او دوامدار زیارت کوونکو ښځو باندی او په هغه چا چه په قبرونو باندی جوماتونه جوړوی او څراغونه پری روښانه کوی .

٢ ـ الاوان من کان قبلکم کانوا ایتخذون قبور انبیائهم مساجداً فانی انهکم عن ذلك . (مسلم)

یعنی خبردار اوسی ، ستاسو نه پخوانو خلکو به د خپلو انبیاؤ په قبرونو باندی عبادتگاهو نه جوړول او زه تاسو د دی حرکت نه منع کوم .

٣ ـ لعن الله تعالی الیهود و النصاری اتخذ واقبور انبیائهم وصالحی هم مساجداً

(احمد ، بخاری ، مسلم او نسائی)

یعنی الله تعالی لعنت فرمایلی په یهود او نصاراؤ باندی چه هغوی د خپلو انبیاؤ او صالحانو له قبرونو نه عبادتگاهونه جوړول .

٤ ـ ان اولئك اذاکان فیهم الرجل الصالح فمات بنوا علی قبره مسجداً وصور وافیه تلك الصور اولئك شرار الخلق یوم القیامة .

(احمد ، بخاری ، مسلم ، نسائی)

یعنی دهغو خلکو حال داؤ چه څوك نیك سړی به پکښې وفات شو ، نو دهغه د مرگ نه پس به ئی د هغه په قبر جومات جوړ کړ او د هغه تصویر به یی جوړ کړ . د قیامت په ورځ به دغه خلك تر ټولو بد مخلوق وی .

د نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) د دی صریحو ارشاداتو سره سره کوم یو داسی سړی چه د خدا یه ویریږی آیا دا جرأت کولای شی چه په قرآن مجید کښې چه د عیسایی پادریانو او رومی حکمرانانو د کوم گمراهانه فعل حکایت ذکر شویدی ، هغه د یوه سم او روا فعل لپاره حجت ونیسی !

اسلام د سولی او امنیت مدافع دی

په هره اندازه چه مسلمان لیکوالان او سیرت پوهان د اسلامی غزواتو داستانونه په خوندورو ادبی الفاظو او د حقایقو په رڼاکی لیکی او زیارباسی چه اسلام د یو امن خوښوونکی دین او مسلك په حیث نړی والوته ور وپیژنی ، په هماغه اندازه ئی غربیان او کمونستان هم دانتشار او پراختیا په لټه کی دی . د هغوی کوشش او هلی ځلی دادی چه د اسلامی غزاگانو د تاریخ په بیانولو سره د اسلام د مقدس دین د پرمختگ لپاره د ظلم او زور یوه خیالی نقشه جوړه کړی او داسی ښکاره کړی چه اسلام د زور او جبر له لاری په ملتونو باندی تحمیل شوی او د پرمختگ یواځینی وسیله ئی جنگ او وینی تویول وو .

د غرب او کمونست بلاك ټولو تاریخ پوهانو نبوی سیرت په داسی سبك او ترتیب لیکلی چه د هغه په ترڅ کی ئی اسلام د پرله پسی او خونړیو جنگونو یو ځنځیر ترسیم کړی او لیکلی ئی دی چه د دغو جگړو هدف ، په زور او جبر د خلکو مسلمانول وو . خو څنگه چه دا خیال او نظر هیڅ اساس او بنیاد نه لری او له حقیقت څخه د ځمکی او آسمان په فاصله دی نوښه به داوی چه د صدر اسلام د تاریخ پاڼی واړوو او د تاریخی حقایقو په رڼاکی د هغو خلکو لپاره د قناعت وړ ځواب برابر کړو چه د مسلمانی د دعوی سره سره د غربی او کمونستی پروپاگندو د تاثیر لاندی راغلی او بیله دی چه خپل اسلامی تاریخ ته نظر وکړی ، د اسلام د معاندینو د پوچو او بی محتوا پروپاگند په مقابل کی سکوت اختیار وی .

د خلکو عام نظر دادی چه اسلام په مکه کی د راز راز مصیبتونو سره مخا مخ ؤ ، خو چه کله

مدینی ته را ورسید ، نو تکلیفو نه ئی لیری شول مگر دا سم نظر نه دی . ځکه په مکه کی چه کوم مصیبتونه وو ، که سخت او غیر قابل برداشت هم وو خو ځانله ځانله وو ، او فردی شکل ئی درلود ، مگر په مدینه کی دغه مصیبتونه په اجتماعی بیلا بیلو بڼو راڅرگند شول . په مکه کی ټول یو قام ؤ او په مدینه کی د انصارو سره یهودیان هم او سیدل چه په خوی ، عادت ، خصلت ، مذهب او دین کی د انصارو نه بیخی مخالف او د دوی مقابل حریفان وو . سر بیره په دی په مدینه کی د منافقانو په نامه یوه دریمه ډله هم را پیدا شوه چه دا دلستوڼی ماران د ټولو نه زیات خکرناك وو . که مکه په لمړنیو وختونو کی د مسلمانانو په تسلط کی راغلی وای ، نو د حرم د اثر او تقدس په وجه به د ټولو عربو د اطاعت سرونه ورته کښته شوی وای . مگر د مدینی اثر په یوه کوچنی سیمه کی محدود ؤ . تر دغه وخته پوری مدینه له هر راز خارجی خطرونو څخه په امن کی وه ، خو کله چه د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) استوگنځی شو ، نو د قریشو د قهر ، غضب او تاړاك سیلاب وربانډی رامات ؤ .

محمد (صلی الله علیه وسلم) چه کوم وخت له مکی نه مدینی ته کوچ وکړ ، لړی ورځی وروسته قریشو ، عبدالله ابن ابی ته چه د نبوی هجرت نه وړاندی د انصارو رئیس او سردارؤ او انصارو د پادشاه په حیث دده د تاج پوشی د دو د په ځای کولو لپاره یو تاج جوړ کړی ؤ . یو خط و لیکه چه پښتو متن ئی دادی :

«تاسی زمونږ یو سړی ته په خپل ځای کی پناه ورکړی ده ، زمونږ دی په خدای قسم وی چه یا خوتاسی دا سړی مړکړی ، یائی له مدینی نه و باسی ، که نه وی نو مونږ به ټول په تاسو حمله وکړواو تاسی به فنا کړو او ستاسو ښځی به واخلو .»

کله چه محمد (صلی الله علیه وسلم) له خط نه خبر شو ، نو عبدالله ته ورغی او هغه ته ئی وویل چه «آیا ته به د خپلو ځامنو او ورونو سره جنگ وکړی» ځکه چه په دغه وخت کی د انصارو ډیره برخه مسلمانه شوی وه ، په دی وجه عبدالله په اصل مسئاله پوه شو او د قریشو حکم ئی عملی نه کړی شو .

سره د دی ټولو خبرو ، مدینی ته د محمد (صلی الله علیه وسلم) ورتگ منافقان او یهودان ډیر سر بداله کړی وو . په همدی زمانه کی یعنی د بدر د جنگ نه وړاندی محمد (صلی الله علیه وسلم) د بنو الحارث په کوڅه سپور تیریده . په یو ځای کی د مدینی مشرکان او منافقان ، یهودیان او ځینی مسلمانان ناست

وو ، کله چه د سپرلی د تیریدو په اثر دوړی پورته شوی ، نو عبدالله ابن ابی په سپکه لهجه وویل دوړی مه کوه . محمد (صلی الله علیه وسلم) په دغو خلکو سلام واچاوه او د قرآن څو آیتونه ئی ولوستل . عبدالله وویل : «ای سړیه ! ستا دا خبری زمانه خوښیږی . که ستا خبری رښتیا هم وی ، خو زمونږ مجلسونو ته مه راځه او مونږ مه په عذابوه ، څوك چه تا ته درشی ، هغه ته دغه خبری کوه» . مسلمانان په دغه سپك وضیعت دومره په قهر شول او نږدی وه چه مرگ ژوبله سره وشی ، مگر محمد (صلی الله علیه وسلم) دواړه خو اوی سره غلی او کراره کړی .

په همدغه ورځو کی سعد بن معاذ (رضی الله عنه) چه د «اوس» نومی قبیلی لوی مشر ؤ ، د عمری داداء کولو لپاره مکی ته لاړ . دی او امیه بن خلف د پخوانه سره ډیر دوستان وو او دا دوستی ئی د اسلام نه وروسته هم په ځای پاتی وه . د دی دوستی په وجه سعد د امیه بن خلف کره میلمه شو . یوه ورځ ئی امیه د ځان سره کړ او د کعبی د طواف لپاره روان شو . اتفاقاً ابو جهل په مخه ورغی . ابو جهل د امیه نه پوښتنه وکړه چه دا ستا ملگری څوك دی ؟ امیه وویل : سعد دی . ابو جهل وویل : «تاسی صابیانو (کافرانو به محمد (صلی الله علیه وسلم) او د ده اصحابو ته صابیان یعنی مرتد وویل) ته پناه ورکړی ده، زه دا بیخی نه شم منلی چه تاسی کعبی ته راشی ، زما دی په خدای قسم وی چه که ستا سره امیه نه وای نو ته له ما څخه ژوندی واپس نه شوی تللی .»

سعد ورته وویل : که تاسو مونږ له حج نه منع کړی ، نو مونږ به په تاسو د مدینی لاروتړو (یعنی د شام د تجارت لار) . د حرم د سرپرستی په وجه به ټولو عربو د قریشو ډیر احترام کاوه او د مکی نه ترمدینی پوری چه څومره قبیلی پرتی وی ، ټولی د قریشو د تاثیر لاندی وی . په دی سبب قریشو دغه ټولی قبیلی د اسلام د مخالفت لپاره ودرولی او د هجرت تر شپږم کال پوری د یمن او نورو ځایو خلك محمد (صلی الله علیه وسلم) ته نه شو راتلی . د بحرین یوه ډله استازی چه په شپږم هجری کال راغلل ، نو د پیغمبر علیه السلام حضور ته ئی عرض وکړ چه د مضر قبیله زمونږ د راتلو د لاری خنډ دی ، له دی کبله مونږ یوازی د حج په ورځو کی چه په عام ډول جنگونه بندیږی ، ستاسو خدمت ته راتلی شو . قریشو یوازی په دی خبرو اکتفا و نه کړه ، بلکه لکه څنگه چه ئی عبدالله ابن ابی ته لیکلی وو ، هغسی ئی په مدینه باندی د حملی او تاړاك د پاره ځانونه تیارول . تر ډیری

مودی پوری حال داؤ چه محمد (صلی الله علیه وسلم) به شپه په ویښه تیروله . د صحیح البخاری په باب الجهاد کی راغلی دی چه یو ځل محمد (صلی الله علیه وسلم) و فرمایل: «که نن یوښه سړی پیره کړی وای» ددی خبری په او ریدو سعد بن وقاص په وسله ځان سمبال کړ او ټوله شپه ئی پیره وکړه . له دی نه زیات د حاکم روایت دی چه وائی: هر کله چه محمد (صلی الله علیه وسلم) او دده اصحاب مدینی ته راغلل او انصارو ورته پناه ورکړه ، نو ټول عرب له یوی مخی د دوی سره جنګ ته تیار شول . په دغه وجه به اصحاب تر سبا پوری دوسلو سره بیده کیدل .

د غزاګانو د تاریخ پوهان همدا واقعات د اسلامی غزاګانو شروع ګڼی او وائی چه په دغه کال پاك خدای مسلمانانو ته د جهاد اجازه ورکړه ، لیکن هر پوه څیړونکی چه د تعصب او عناد عینکی له سترګو لیری کړی او د حقیقت او قضاوت په نظر واقعات او حوادث تحلیل کړی ، په خپله دا اندازه لګولی شی چه اصل حقیقت څه ؤ او د غزاګانو د پیل لپاره کوم عوامل او انګیرنی موجود وی . ځینو مفسرینو لیکلی دی چه الله تعالی (جل جلاله) د دوهم هجری کال د صفری په میاشت کی مسلمانانو ته د جهاد اجازه ورکړه او ددی خبری د سند لپاره د امام زهری په دی قول تکیه کوی :

اول آیته نزلت فی الاذن بالقتال اذن للذین یقاتلون بانهم ظلموا وان الله علی نصر هم لقدیرۀ

یعنی هغه لومړنی آیت چه د جنګ د اجازی په باره کی نازل شوی دا دی : «اذن للذین الخ» چه ترجمه ئی داده : د چاسره چه جنګ کیږی (مسلمانان) هغوی ته همدا اوس د جنګ اجازه ده ، ځکه چه په دوی ظلم او تیری کیږی او خدای بیشکه د دوی په مرسته قادر دی .

ځینی نور مفسرین وائی چه د جنګ د اجازی په باب لومړنی آیت دادی :

قاتلوا في سبيل الله الذين يقاتلونكم .

ترجمه: د خدای په لار کی د هغو خلکو سره جنګ وکړی چه هغوی ستاسو سره جنګونه کوی .

که په غور وګوری ، په دی دواړو آیتونو کی د هغو خلکو سره د جنګ کولو اجازه ورکړی شوی ده چه هغوی اول د مسلمانانو جنګ ته ملاتړلی وی . له دی څخه دا حقیقت څرګندیږی چه مسلمانان به په زور جنګ کولو ته اړکیدل او جنګ به ورباندی تحمیل کیده .

لنډه داستان

د بوډۍ میړانه

«د بوډۍ میړانه» هغه داستان نه دی چی سوژه ئی د خپل فکر په قوت برابره شوی او جملی ئی د قلم د نوکی په زور راټولی شوی وی . بلکه یو واقعیت دی ، تاریخ دی او زمونږ د مقدس جهاد دیو سنگر ارمغان دی چه د الله سره مینه وال ئی باید د خپلی لاری مشال وگرځوی

هغه غریبه په ځوانه ځوانی کی کونډه شوه . دوه بچی ورسره د چا خبره په غیږ کی پاتی شول . اشرف کاکا دی خدای و بخښی هم لاښه ؤ . په ښار کی به ئی څه مزدوری کوله او د خپل کورڅۀ بوده به ئی پری روانوله . ژوند ئی د سختو او کړاونو ډك ؤ خو که چا به ورته د څمکی د خرڅ خبره یاده کړه تا به ویل په ټوپك دی وویشت :

هلکه زه چه نن څمکه خرڅه کړم سبا به می دا واړه بچیان څه خوری ؟

هغه ښه فکر کړی ؤ همداچه ستر گی ئی له دنیا پټی شوی د کړاوونو او مشکلاتو پیټی ئی د کونډی په اورو پریوت . خو شیرینو په سړه سینه د حالاتو مقابله کوله ، څمکه ئی دهقان له په نیمه ورکړه سعید او کریم ئی په مکتب کی واچړل او دغو دوو بچوته ئی د امید شپی سباکولی .

میاشتی او کلونه تیریدل - شیرینو به چه هروخت بچوته کتل د امید غوټی به ئی په غوړیدو راغلی چه څه که خیروی ځامن به ئی زلمی شی او د کړاوونو شپه به سباشی .

وخت ډیر تیر شو ، سعید او کریم د ځوانی په بڼ ورگډ شول ، په کلی مالت کی د شیرینو د ځامنو خبری تاویدی راتاویدی ، هر چابه ویل

آفرین په داسی مورشه چه د خپل اولاد لپاره ئی څه سختی وی چه تیری ئی نه کړی. هغه دی مکتب ئی په ووایه نوره ئی خواری نشته، کال بل له به د منصب خاوندان وی.

د شیرینو د ځوانی بهار تیرشو، توروویښتان ئی سپین شول، په مخ کی ئی ګونجې پیدا شوی او په کلی ګاونډ کی بیاد شیرینو ادی په نوم یادیده.

سعید او کریم هم ښونځی خلاص کړ او د کلی په بل ښوونځی کی معلمان شول. د سختیو او تکلیفونو په بهی کی د سو ځیدلی شیرینو د آرمانونو بڼ په غوړیدو شو، بیا ئی نو دایو آرمان په زړه پاتی ؤ چه د ځامنو جوړه ناوی ئی د کور په دروازه راننوزی او خدای د هغی دا آرمان هم پوره کړ.

شیرینو ادی د کور واك اختیار ځامنو او نګیندو ته پریښود او پخپله د عبادت او ریاضت په ګوټ کی کښیناسته. هسی خو پخواهم هغه په دینداری او پاکی مشهوره وه خواوس ئی د دنیا له کاروباره ورسره لاس واخست او خپل وخت ئی لمونځ او عبادت ته وقف کړ.

کور به ئی له میلمنو نه نه خالی کیده او هره شپه به ترناوخته مجلسونه روان وو. شیرینو به شکرونه ویستل چه ځامنو له ئی میلمانه راځی خو خبره نه وه چه دیوی دینداری او په خدای مینی میرمنی کور د دهریانو او کافرانو ځاله شویده.

او بله ورځ ئی چه سعید بچی د کور په دروازه راننوت او وئی لیدل چه بوډی مورئی د قرآن تلاوت کوی، په سپور وستغو ئی ورته خوله بیرته کړه: داستا څه کولی شی، شپه ورځ دی په ځان یوه کړی ده ځان دی ناروغه کړ. ټوله ورځ ته ئی او داشکته کیدل پورته کیدل دی.

ادی! اوس ددی وخت تیرشوی دی دا د اشرافیت او فیوډالی د عصر خبری وی. اوس په هیواد کی خلقی انقلاب کامیاب شویدی. قدرت داشرافو له لاسه و تلی او روشن فکر و ځوانانو ټول قدرت په لاس کی اخستی دی. زه وایم چه دا دتسپو او جای نماز خاوندان می نورهم و ټکولی او ته راته لا په کور کی لګیائی دا ترانی غړ وی.

شیرینو ادی لکه د بی روحه بت په شان د ځوی خبروته هك پك پاتی وه. هغه پوه شوه چه د کلونو کلونو خواریو او کړاوونو ئی هیڅ ګټه نه ده کړی او د مودو مودو د امیدونو کو ړی ئی خاوری ایري شویده ـ څه شیبه غلی وه خوبیائی اسلامی غیرت راو پارید او په خوړه ژبه ئی وویل: وی بچیه! دا څه خبری کړی ـ ته خو لکه چی بی دینه شوی ئی ـ ماخو ویل چه دا ببر سر او زوړند بریتان دی ولی پری ایښی

دی ـ بچیه ـ توبه و باسه ـ خدای ته سجده وکړه ـ د بی دینانو په خبر وپسی مه ځه ـ د دنیا اقتدار لا څه دی چه څوك دی پری غره شی ـ د آخرت سوال کوه ـ پلار دی خدای و بخښه که ژوندی وی نو ....

او نا اهله زوی ئی چه د دهریت او الحاد په گوند کی د مور او پلار د تحقیر او توهین او د دین د سپکاوی نه غیرنور څه نه وو زده کړی او د روشن فکری نښانه ورته بس همدغه د الله تعالی نه بغاوت کول ښکاریدل، مورته په بد و ردو سرشو او د قهر او غصی نه په ړك آواز ئی ورته ویل: که پلار می ژوندی وی نو څه؟ هر څوك چه زمونږ د انقلاب مخالفت کوی ـ که پلارمی هم او که ته وی هم، له تیغه به ئی تیر کړم. زمونږ پلار لینن مونږ ته دا توصیه کړی هر څوك چه مو د کارگری انقلاب مخالفت وکړی که پلار مو وی او که مومور، په توره شپه کی ئی له منځه یوسی، او د دی سره سم لکه دلیونی سپی په مور ورغوټه شو، د سرویښتان ئی تری په گوتو وویستل ـ د قرآن پاڼی ئی ترپښو لاندی کړی او د بوډی مور زوړ جانماز ئی ریخی ریخی کړ.

خود شیرینو ادی چاره د سکوت او خدای ته له صبرنه غیر بله څه وه؟ د ځامنو له زړونو ځخه خوئی د موروالی داحترام احساس ورك شوی ؤ، نوځه به ئی ویلی وی؟

څو میاشتی تیری شوی ـ د شیرینو ادی وجود لکه چینجو وهلی لرگی وچ اوزبیښلی شو، ځکه په دنیا کی د هغی د امید او آرز و نیالگی وچ شوی ؤ او هغه اوس د خپلو امیدو په هدیره ناسته وه ـ خدای ته په تضرع او سجود باندی به ئی د خپل غمگین او حزین زړه تسکین کاوه.

بله ورځ ماښام تیر د علاقه داری په دفتر باندی د اسلام دلاری مجاهدینو حمله وکړه، دفتر ته ئی اور وا چاوه، وسله ئی په غنیمت واخسته او څو تنه ملحد مامورین او علاقه دارئی په سرو وینو کی ولمبول.

بزی نوری هم زیاتی شوی او د دهریانو په صفونو کی ماتی گډه شوه ـ هریو ځانله د پټیدو ځای کوت. څوك به دغواو په غوجلو کی پټیدل، څوك په تنورونو کی او څوك چیرته او څوك چیرته. خود کلی خلك چه د خوښی نه په کالیو کی نه ځائیدل او هریو د دغی نیکمرغی شیبی د راتگ امیدونه لرل، ملحد خلقیان او پرچمیان ئی هر چیرته چه وو، رانیول او مجاهدینو ته ئی حواله کول.

نیمه شپه وه چه د بوډی د کور دروازه وټکیده ـ شیرینو ادی دروازی ته ورغله، پوښتنه ئی وکړه څوك ئی؟ مجاهدینو ورته وویل: مونږ مجاهدین یو ـ سعید او کریم موپکار دی.

شیرینو ادی پوه شوه چه زامنو ته ئی د سزاء شیبی رارسیدلی او بوړی مورئی په سپین سرد الله تعالی دلوی آز میښت سره مخامخ شویده ـ یا به د الله تعالی رضا اخلی او یا به دد وو ملحدو زامنو مینه.

شیرینو دروازه خلاصه کړه ـ مجاهدینو ته ئی وویل: خبری مه کوی چه بیدارنشی. مجاهدین کورته ننوتل او دغه دواړه ملحد خلقیان ئی ونیول او د اسلامی فیصلی لپاره ئی روان کړل. څو قدمه لانه وو تلی چه بوړی ورته غږ کړ ـ مجاهدینو گومان وکړ چه شاید د مور والی دمینی احساس ئی را پاریدلی وی او د خپلو ځامنو د خلاصون لپاره عذر زاری کوی. ورته ئی وویل موری هر څه چه وائی په سر سترگوئی منو. مونږ د کافرانو په مقابل کی د سخت زړه او د سپین سری مسلمانی بوړی په وړاندی فرمانبردار او منونکی یو. اشداء علی الکفار رحماء بینهم.

وایه څه وائی؟

خوسپینی سری شیرینو د اسلامی دبدبی نه په ډک آواز وویل: زه د هغوی د نجات لپاره نه یم راغلی بلکه د خدای مینه را باندی غالبه ده. زه د خپلو زامنو دمینی په مقابل کی د الله تعالی رضا غواړم. زما سوال دادی چه دغه ملحدان زما په وړاندی په سزا ورسوی. زه د هغوی په ملحدانه او غیر اسلامی فکر او عمل گواهی ورکوم او د مجاهدینو نه غواړم چه هغوی ته د مرگ سزاء واوروی.

او چه کله د توری شپی په خاموشی کی دیوی مسلمانی او غیرتی ادی په وړاندی د دوود هری خلقیانو وینی څك څك په ځمکه توئیدی او د خپلو وحشیانه اعمالو په سزا رسیدل، نو بیاچه می کتل مسلمانه شیرینو په خړو خاوروکی د الله تعالی دربار ته د شکرانی په سجده پریوتی وه اوله غریوه په ډك آواز ئی ویل: سبحان ربی الاعلی ـ سبحان ربی الاعلی...

د ایمان او عقیدې سنګر

د انسانی تاریخ په اوږد جریان کی د حق او باطل د جګړې بیلا بیل شکلونه راڅرګند شوی خو د دغو جګړو په اصلی ماهیت کی هیڅ توپیر موجود نه ؤ . دحق او باطل ترمنځ په دغو جګړوکی د تل لپاره دوه صفونه او لیکی یو د بل مقابلی ته ولاړې وی . یوخوا دحق منونکی او پلویان او بل خوا د حق دښمنان او منکران . دوی هریو د یو ځانګړی مقصد او هدف په خاطر جنګیږی . د اسلام پیروان یعنی هغه ډله چه الله د خپل یواځینی مالك او خالق په حیث پیژنی او اسلام د الله تعالی د غوره کړی شوی دین په توګه او دهغه د رضا او خوښی لپاره مرګ ورته افتخار او دوینو نذرانه ورته سرلوړی ښکاری . د الله د کلمی دلوړتیا په خاطر او د الله د قانون د حاکمیت په خاطر جنګیږی ، قربانی ورکوی - د سر قوبانی - د مال قربانی .

او کافران هم جنګیږی خود باطل د غلبی له پاره ، د طاغوتی قوانینو د انفاذ لپاره او د کفری او الحادی حکومت د جوړیدو لپاره .

قرآن عظیم الشان د دغو جګړو صفونه ډیر ښه په نښه کړی دی او مومنانو او مجاهدینو ته توصیه کوی چه د طاغوت له پیروانو سره جهاد او مبارزه وکړی او په دی یقین ولری چه د کفری او الحادی ډولګیو کید او دسیسه کمزوری او بی ثمره ده . الله تعالی فرمائی :

الذین آمنوا یقاتلون فی سبیل الله

والذین کفروا یقاتلون فی سبیل الطاغوت فقاتلوا اولیاء الشیطن ان کید الشیطن کان ضعیفا .

یعنی کوم کسان چه مومنان دی د الله په لاره کی جنګیږی او هغوی چه کافران دی د طاغوت لپاره جګړه کوی . ای مومنانو ، د شیطان له دوستانو او پیروانو سره و جنګیږی حقیقت دادی چه د شیطان مکر او دسیسه کمزوری ده .

د حق سنګر د ایمان او عقیدی سنګر دی ، د ریښتینولی ، عزت او شرافت سنګر دی . نه په مادی وسایلو او په مادیاتو باندی سمبال او متکی سنګر . نه په ژبنی ، قومی او قبیلوی تعصباتو باندی ولاړ سنګر او نه د شخصی غرضونو او حیوانی هوسونو سنګر . خود شیطان د کفری او الحادی لښکرو سنګر د مادیاتو او مادی ډول ډال سنګر دی ، د شخصی ګټو او حیوانی اهدافو سنګر ، د بی ایمانی او بدديانتی سنګر ، د خود خواهی او شیطانی غرور سنګر ، د تکبر او استکبار ، ظلم او جباریت او دروا‌غو او فریب مورچل دی .

د حق په مقدس او پاك سنګر کی د الله درضا د حاصلولو لپاره ناست متعهد مومنان د خپلی اخروی مینی شایسته کول غواړی او اصلی هدف او مرام ئی د آخرت د نه ختمیدونکی ژوند سوکالی او خوشحالی ده چه دغه هدف ته د رسیدو یوازینی لارد مرګ د پړاو تیرول دی خو هغه مرګ چه په حقیقت کی دآبدی ژوندانه داخستو قیمتی پانګه ده یعنی شهادت ، او شهادت د الله تعالی سره د تجارت او سودا کولو لارده . له انبیاؤ ، صدیقینو او صالحینو سره د پیوستون لار ده . له ګناهونو او خطاؤ څخه د پاکیدو لار ده . دا هغه مقدسه لار ده چه دکایناتو سردار پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته هوسیدلی او فرمایلی ئی دی : زما په هغه خدای قسم دی چه زما د نفس واکمن دی زه داخوښوم چه دالله په لاره کی ووژل شم ، بیا راژوندی شم ، بیا ووژل شم بیا راژوندی شم او بیاو وژل شم .

خلك له مرګه تښتی او ځان تری ساتی ، خود جهاد او شهادت مینان په مرګ پسی د جهاد سنګر ته ځان رسوی ، خلکو ته مرګ غضب او مصیبت ښکاری خو د الله په مینه مست مجاهدین د الله په لار کی مرګ ته نعمت او هدایت وائی او د دغه نعمت په ګټلو پسی غرونه او رغونه ګوری او هرچیری چه د باطل له لښکرو سره مخامخ کیږی بیانو بیله دی چه د خپل سرڅه پروا وساتی د الله په نوم وربانـدی حمله کوی او له خپل

پروردگار نه استعانت او کومك غواړی .

خود باطل په سنگر کی ناست کسان هغه ډله ده چه د دنیا په ژوند مین دی او دا نیمگړی دنیا د خپلو ټولو آرزوگانو مرجع او وروستی مرکز گڼی . خپل ټول امیدونه یی ددی دنیا په ژوند پوری تړلی دی . د نیوی سوکالی ، نعمت ، اقتدار او د مال دولت کټل د هغه د ژوند او مبارزی معراج دی . ځکه هغوی له مرگ نه په وروسته ژوند او د آخرت په ورځ عقیده نه لری . د هغوی هلی ځلی دادی چه څنگه خپل ژوند ښایسته کړی . هغوی خپل سعادت او سوکالی یوازی په دی دنیا پوری تړلی او فکر کوی چې له مرگ نه وروسته د انسان ټولی خوښی دآبد لپاره له منځه ځی . ځکه خو له مرگه ویریږی او څومره ئی چه له وسه پوره وی هغه ډگر ته نه ورځی چه د مرگ ویره تری کیږی . د هغوی سره هیڅ معنوی آتکا نشته بس هر امید او هره آرزوئی په مادی تجهیزاتو کی نغښتی ده .

د مومنانو او د هغوی چه د خپل پروردگار درضا او د اسلامی نظام دانفاذ لپاره د تودی جگړی بټی ته وردانگی عقیده داده چه د آخرت ورځ خامخا راتلونکی ده . هغه ورځ چه د دنیا د امتحان نتایج به پکی اعلان شی او هغه ورځ چه منتقم خدای به له زور گیرانو او ظالمانو څخه د مظلومانو او د حق په خاطر د خپلو کړیدلو او زوریدلو بندگانو انتقام واخلی . او همدغه ایمان او عقیده ده چه له مرگ څخه د دوی ویره او ترهه په پوخ اطمینان بدله کړی او په پوره ډاډ او اطمینان د الله تعالی له دښمنانو سره جگړه کوی او خپل مرگ آبدی ژوند گڼی .

او همدغه ډاډ او اطمینان دی او دغه دلوی خدای په نصرت باندی زمونږ انکاده چه د نړی دسترجنایت کار او وحشی لښکر د غرور او تکبر تاج مو په خپل هیواد کی په خاورو کی ور غړاوه او ټول مادی تجهیزات ئی زمونږ د مجاهد ملت د ایمان او عقیدی په وړاندی ناکام او ناکار شول . د اسلام د دغه ستر دښمن هیڅ داسی حربه او وسیله پاتی نه شوه چه دحق د مورچل د ړنگولو لپاره ئی په کار وانه چوله خو په دی مقدس سنگر کی سره له دی چه مادی تجهیزات نشته او یا ناکافی دی او سره له دی چه د زرگونو او لکونو مومنانو پاکی وینی پکی توی شوی او سرونه د الله د رضا په لار کی قربان شول بیاهم د روسی طاغوتیانو ټولی مهلکی حربی ناکامی دی او د ایمان او عقیدی سنگر لاهماغسی پوخ او نه ماتیدونکی ځیلږی .

د برلین د دیوال ونړید
پس منظر او عوامل ئې

د ختیځ المان حکومت د خلکو زیات غم غصی او په پټه توګه ګاونډیو هیوادو ته دتیښتی او د پردو هیوادو په سفارتونوکی د پناه اخستو دیوی اوږدی لړی نه وروسته بالاخره خلکو ته اجازه ورکړهٔ چه لویدیځ المان ته مسافرت کولی شی . د دغه اعلان له او ریدو سره جوخت د برلین هغه دیوال چه اته ویشت کاله وړاندی د روسی استعمار له خوا په جرمنی کی جوړ شوی او دهغه هیواد واحد وجود ئی د ختیځ او لویدیځ په برخوویشلی ؤ د خلکو له خوا ونړید او په جوپو جوپو خلکو لویدیځ جرمنی ته په سفر کولو پیل وکړ . دغه کار ټوله دنیا په تیره بیا غربی نړی له تعجب او حیرانتیا سره مخامخ کړهٔ او هغه ئی داسی یو کار وګانه چه د دوهمی نړیوالی جګړی نه وروسته ئی ساری نه لیدل کیږی . دلویدیځ المان چانسلر کوهل د امریکا جمهور رئیس جارج بش ته په تلیفون کی وویل چه دا هر څه د امریکی برکت دی خو جارج بش اعتراف وکړ چه زه حیران یم چه د ختیځ المان خلکو څنګه په مسالمت آمیزه توګه دغه بریالیتوب حاصل کړ . دغه راز دانګلستان حکومت د برلین د دیوال نړیدل یوه بی ساری واقعه او د آزادی په لورئی د ختیځ المان د خلکو لپاره یوښه فال وګانه . رښتیا خبره داده چه غربی نړی د برلین د دیوال په نړیدلو سره له زیاتی خوښی څخه خپل حواس بایللی دی او دا فکر نه کوی چه دغه دیوال چه په ۱۹٦۱ کال کی د ختیځ المان له خوا جوړ شوی ؤ د نړیدلو وجه ئی څه دی او کوم هغه عوامل دی چه د برلین د دیوال د نړیدلو باعث شویدی ؟

ښه به داوی چه د دیوال د جوړښت د عصر نه بیاترننه پوری په شرایطو باندی لنډه رڼا و غورزول شی .

د دوهمی نړیوالی جګړی وروسته کله

چه په کلی ډول تباه شوی جرمنی په دووحصو وویشل شو نودلویدیځ المان اقتصاد د امریکا د مارشل پلان په وسیله په پښو و درول شو او ختیځ المان د سوسیالیزم په کومی ورننوت . نتیجه دا شوه چۀ لویدیځ المان د ترقی او پرمختګ پړاوونه ووهل او د ختیځ المان خلك د سوسیالیزم د وحشیانه نظام د ټینګښت لپاره په قربانی ورکولو مجبور کړی شول . په ۱۳۳۱ هـ ش کال د ختیځ المان خلکو د سوسیالست حکومت په خلاف د بغاوت جنډه او چته کړه خو دغه بغاوت دهیواد د وحشیانه پوځیانو په واسطه و ټکول شو اودهغه هیواد خلکو لویدیځ المان ته تیښته پیل وکړ په ۱۳۳۹ هـ ش کال کښی دغه فرار او ډله ایزی تیښتی دیو سیلاب شکل ونیو او په سوونو سوونو خلك په پټه توګه لویدیځ ته په تیښته وو چه دغه کار د روس او ختیځ المان لپاره د منلو او زغم وړنه ؤ نو فیصله داشوه چه په سرعت سره د برلین دیوال جوړ شی او د خلکو د تیښتی مخه ونیول شی . د ختیځ المان ځینی مهم شخصیتونه لویدیځ المان ته د تیښتی په وخت کښی د کمونستو پوځیانو له خوا وویشتل شول او حکومت د ټولی نړی له مخالفت سره سره دغه دیوال جوړ او مستحکم کړ .

په ۱۳۴۶ هـ ش کال کله چه د چکوسلواکیا خلك د برژنیف د دوکتورین په اساس تر روسی ټانکونو لاندی و چقول شول نو نړی ته ثابته شوه چه روس غواړی د ختیځی اروپا په هیوادونو باندی خپله منحوسه سیطره و غوړوی . دا هغه وخت ؤ چه امریکا د ویتنام په جنګ کی ښتی وه او وئی نه شو کولی چه د چکوسلواکیا له خلکو سره څه مرسته وکړی او همدغه وجه وه چه لویدیځ المان خپل پری شوی وجود د ختیځ المان د حکومت په حیث په رسمیت وپیژاند . امریکا دویتنام په جګړه کی دومرۀ بی تابه شوی وه چه د جګړی په پای ته رسیدو سره ئی د چین لمنی ته لاس و غورزاوه او د خپلی نظامی کمزوری په پام کی نیو لوسره ئی له روسی سره د یتانت امضا کړ . له دغه وخت نه وروسته روس د خپل نظامی پرمختګ لپاره میدان خالی ولید او په ډیره بی صبری سره ئی د انګولا په داخلی جګړۀ کی مستقیمه برخه واخسته او د خپلو سیاسی او جغرافیائی حدود و د پراختیا په لټه کی شو . بیائی په ایتوپیا باندی منګولی خښی کړی او په دی ډول د شرق د دغه وحشی استعمار له پاره داسی شرایط برابر شول چه د غورزو پرزو سره سره به ئی هیچا مخه نه شوی نیولی . په ۱۳۵۸ هـ ش کال ئی په

افغانستان حمله وکړه او وروسته ئی جنوبی یمن هم تر خپل اشتراکی کومی تیرکړ .

په دغه وخت کی امریکا د روس په وړاندی د پوره ناتوانی احساس کاوه او په ۱۳۵۹ کال کی کله چه د امریکا او روس جمهور رئیسان سره مخامخ شول نو د امریکا جمهور رئیس د برژنیف مخ ښکل کړ او سوال ئی ورته وکړ چه له دی نه زیات باید امریکا په نړی کی ذلیله نه شی . خو روس د امریکا د پوځی او اخلاقی کمزوری پوخ لام تړلی ؤ او د پخوا په شان د خپل نظامی پرمختګ په لټه کی ؤ ترڅو وکولی شی چه دامریکا لاس د منځنی ختیځ د تیلو د ذخیرو او د جنوبی افریقی د کانونو څخه و باسی او خپل ځان په اقتصادی لحاظ قوی کړی بل طرفته ئی داهلی ځلی پیل کړی چه دنړی خلك په دی قایل کړی چه سوسیالیزم د سرمایه داری په نسبت د ژوند غوره نظام دی په دی وجه ئی بیله دی چه د امریکا د سوال زاری څه خیال وساتی په ۱۳۵۹ کال ئی په نکاراګوا کی د سوسیالیزم جنډه پورته کړه .

خو په داسی یو وخت کی چه روس د ټولی نړی د پهلوان په نوم شهرت پیدا کړی ؤ او غوښتل ئی چه ټوله نړی د خپل کمونیستی نګین لاندی وساتی . یوازی د افغانستان باشهامته مسلمان ملت ؤ چه د روسی لښکرو سره په افغانستان کی لاس او ګریوان وو او نه ئی پریښودل چه په افغانستان باندی د الحاد او کمونیزم منګولی ښخی شی . په سوونو زرګونو افغانانو د روسانو په لاس شهیدان شول او داسی په زرګونو نور دزندان په پنجروکی بند شول خو بیاهم دافغانستان د مجاهد ملت د جهاد جذبه د سړیدو په ځأی څوچنده نوره هم توده شوه ، هر څو مره چه د طاقت په نشه مست کرملینی جلادان د افغانانو د مقاومت او مظلومانه دفاع په وجه په قهر کیدل او د وحشت او ظلم نوی نوی مدرنی وسلی ئی په کار اچولی ، ورسره جوخت د مومنو مجاهدینو د ثبات او استقامت او دلوی خدای په نصرت باندی د ایمان او اتکا احساس لاهم قوی کیده .

د روسی استعمار چیانو خود اپوخ یقین ؤ چه سره پوځونه به د شیطانی غرور نه په ډکو سرونو افغانستان قبضه کړی او پاکستان به مجبور کړی چه روسی پوځونو ته سلامی شی او په دی ډول به پراختیا غوښتونکی روسی پوځیان په ډیره لږه موده کی د خلیج په سیمه باندی خپله منحوسه سیطره و غوړوی او د غربی هیوادو او جاپان دګډ شه رګ کنترول به په خپل لاس کی وساتی . برسیره پردی به دهند په بحر باندی

کړی او د دغه حقیقت په پوهیدلو سره یوځل بیاد روس له طرفه له امریکا سره د خبرو اترو امکانات رامنځته شول . هغه دا دوهم ملاقات هم غیر له دی چهٔ د «نشستند و گفتند و برخواستند» بله کومه ثمره ورنه کړه . خو روس بیاهم له افغانستان نه د امید سترگی نه اړولی او نه ئی د دی هیواد د اشغال مینه له زړه وتله ، هڅه او کوشش ئی داوه چه خپل وروستی امکانات هم ددغه ناوړه مقصد لپاره په کار واچوی ، د عامو قتلونو ، تړلو او وهلو او د کلیو او ښارونو د بمباری کولو بازار له پخوا نه زیات تود شو او افغان مجاهد ولس په خپلو وینو کی ولمبید . مگر داشتراکیت او الحاد د قانون په وړاندی سلامی نه شول او د خپلو سرونو په قربانی سره ئی د مقدس جهاد پروسه گړندی وساتله او همدا وجه وه چهٔ بالاخره گورباچوف په دی مجبور شو چه د امریکا د جمهور رئیس سره د خبرو اترو په میز د خپل شکست گونډه و وهله او له افغانستان څخه ئی د خپلو پوځونو د وتلو د پاره د شرایطو د برابرولو درخواست پیش کړ او اعتراف ئی وکړ چه روس په افغانستان کی ناکام دی .

د هیچا خیال نه ؤ چه روس به د بی وسو افغانانو په وړاندی وسله کیږدی خو بیاهم د عقل خاوندان پوهیدل چه روس د افغانستان د خلکو سره د جگړی په پیل کیدو سره د خپلی تباهی سند پخپله امضا کړیدی .

په افغانستان باندی د روس لښکر کشی په یو نظر د «تخت یا تابوت» سره مترادف ؤ ، که روسی لښکری په افغانستان کی ټینگی شوی او بریالی شوی وی ، نو ټولی دنیا به ئی پښی ښکل کړی وی او هرچا به ورته له لیری لیری د خپل تابعیت سند رالیږلی او د ناکامی په صورت کی تباهی او شرمندگی د کرملین مقدر گرځیدلی ؤ . هسی خو روس په اقتصادی لحاظ زیات ناتوان او کمزوری ؤ مگر د افغانستان په جگړه کی د اقتصادی تباهی دکندی غاړی ته ورسید او برسیره پردی ئی د پوځی طاقت ډرامه رسوا او شرمنده شوه او دنیا ولیدل چه سره پوځونه د مدرنو وسلو سره سره د افغانی مظلوم ملت په وړاندی ناکام او رسوا شول .

د کرملین واکداران په دی پوهیدل چه له افغانستان نه د روسی پوځونو د و تلو سودا به د کرملین لپاره ډیره گرانه تمامه شی او په منځنی آسیا او ختیځی اروپاکی به د آزادی او خود مختاری یوه نوی فضا راوالوزی . او همدغه ویره او ترهه وه چه گورباچوف د امریکی د جمهور رئیس په پښو کی و رغښت خو هیڅ گټه ئی ونه کړه .

د دغو حقایقو په نظر کی نیولو سره دا

د قبضی له ټینګولو سره سم د افریقا په معدنیاتو باندی خیټه واچوی او لویدیځ یورپ به په نظامی ساحه کی هم له پښووغورزوی .

خو دا د افغانستان مظلوم مګر باشهامته مجاهد ملت ؤ چه په تش لاس مګر د ایمان او جهاد په قوت ئی د روسی پراختیا غوښتونکو هغه لیونی اوښ په خپل هیواد کی مهار کړ چه د جهان په تسخیر پسی راوتلی ؤ

روس د زیاتو بمباریو او ځمکنی او هوائی قوت سره سره بیاهم و نه شو کولی چه په افغانستان کی پښی ټینګی کړی ، پریږده لا داچه د بل هیواد د غلامولو خیال په سرکی وساتی . او همدغه وخت ؤ چه د امریکا په نحیف او کمزوری وجود کی نوی ساه و غړیده او د چاری په لټه کی شو . یو طرفته ئی د پاکستان اقتصادی ملاتړ اعلان کړ او بل طرفته ئی خپل پوځ په مدرنو وسلو سمبال کړ او په دی و پوهید چه د روس د پرمختګ لاره په افغانستان کی بنده شوه خو بیاهم په دی شك کی وه چه د افغان ولس دغه مقاومت به د امریکی او پاکستان د تقوئی او په خپل ځان دبسیاتوب تر وخته دوام وکړی کنهٔ ؟ د دغی پوښتنی په ځواب کی ټوله دنیا یوه خو له وه چه نه ، افغان ولس د روسی لښکرو په وړاندی دومره مقاومت نشی کولی . خو دا د افغانستان مجاهد ملت ؤ چه دغسی ناممکن کارئی ممکن کړ او د خپلو سرونو په نذرانه کولوئی د خپل دین او هیواد ناموس وساته او د مقابلی هغه ډګر ئی تود وساته چه له اوراو فولا دو سره د جهاد او شهادت د احساس نه د ډکو ککریو ترمنځ د افغانستان په سټیج روانه وه .

د ۱۳٦۳ هـ ش کال په وروستیو میاشتو کی روس ته دا پته ولګیده چه د افغانستان د خلکو سره د جګړی دوام به غیر له دی چه روس د زیات اقتصادی انحطاط سره مخامخ کړی بله ګټه تری لاسته نشی راتلی . په دغه وخت کی امریکا د آرام ساه اخستی وه او ځأن ورته قوی شان ښکاریده ځکه خوئی د روس سره د خبرو اترو پیشنهاد رد نه کړ . وړاندی له دی چه به کله روس د خبرو پیشنهاد وکړ امریکی به د خپل ضعف او ناتوانی په وجه رد جواب ورکاوه ، خو داځل د امریکی جمهور رئیس ریګن د ګورباچوف پیشنهاد په ډیره آسانی و مانه او کله چه د خبر و اترو څخه څه ګټوره نتیجه ښکاره نه شوه ، روس یوځل بیا په افغان ولس باندی د زور ظلم او وحشت او بربریت آسمان څو نیزی نورهم راښکته کړ او په افغانستان کی دوینو رودونه لاهماغسی په غورځنګ بهیدل مګر ګورباچوف و نه شو کولی چه افغان میړنی ولس د اشتراکیت په جال کی ښکیل

خبره په ډاکه کیږی چه د ختیځ المان له خوا اته ویشت کاله وروسته د برلین د دیوال نړیدل د ډیری حرانتیا خبره نه ده بلکه حقیقت دادی چه دا د افغان مجاهد ولس دوینو سیلاب ؤ چه د برلین دیوال ئی د خس او خاشاك په شان په مخه کړ او د ختیځی اروپا څخه ئی د کمونیزم او اشتراکیت منحوس نظام ته خاتمه ورکړه او غربی نړی باید د دغه استعماری دیوال د نړیدو په خوشحالی کی د افغانستان د مجاهدینو احسان هیڅکله هیرنه کړی . د هغو مجاهدینو احسان چه دځان په تباهی ئی د روس ملاماته کړه او د نړی مظلوم ولسونه ئی د کمونیزم له بدبخته نظام نه خلاص کړل .

د ( ) مخ پاتی

اسلامی اخلاق

PROPERTY OF ACKU S524

تاریکو ..ورو لپاره اغیز من ؤ او نه د اسلام او اسلامی جامعی د کوم درد دوا کیدی شی . په نړۍ باندی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عالی تعلیماتو او آسمانی دین لوی اثر په دی کی ؤ چه د عالی اخلاقو او سیرت نه داسی ډکو شخصیتونو دهغه په لاس بیعت وکړ چه د شخصیت او کرکتر له مخی د یو بی مثاله ځواك او قوت په حیث په عربی جامعه کی پیژندل شوی وو او خدای مه کړه که له هغه سره د ټیټو اخلاقو د لرونکو او بی همته خلکو ملاتړ ملگری وی نو هیڅکله به هم د اسلام د عالی تعلیماتو څخه د توقع وړ ثمره په لاس نه وه راغلی .

(نوربیا)

بسم الله الرحمن الرحيم

رسول الله صلى الله عليه وسلم و فرمايل:

«ثلاث من كن فيه وجد بهن حلاوة الايمان من كان الله ورسوله احب اليه مماسوا هماء ومن احب عبداً لايحبه الاالله ومن يكره ان يعود في الكفر بعد ان انقذه الله كما يكره ان يلقى في النار» (بخاری او مسلم)

ترجمه: دری ځيزونه دی چه انسان دهغو په واسطی سره د ايمان خوند څکی، يو هغه څوك چه پاك خدای او د هغه پيغمبر له ټولو ځيزونو ورته گران وی، بل هغه څوك چه د نورو سره مينه کوی د هغه کول خاص د الله (جل جلاله) د رضا او خوښی د پاره وی او بل هغه ځوك چه وروسته له مسلمانيدو څخه کفر ته رجوع کول داسی بدوگنی لکه چه په

بقيه (١٢)

حقانيت مسلك اهلحديث ...

پنجم هجری است و قول فوق را موصوف در آنوقت گفته است اين خود نشان ميدهد که مذهب اهلحديث از قديم الايام وجود داشت.

حافظ نووی شافعی که در قرن هفتم هجری گذشته در مقامات متعدد شرح صحيح مسلم خود از مذاهب پنجگانه تذکر نموده و بين آنها تقابل می نمايد - مثلا ميگويد حکم اين مسئله در مذهب شافعی، اينطور است و در مالکی فلان طور و مذهب احناف چنين گفته است و از حنبلی چنان، بعد از بيان همه جدا و بطور مستقل رائی و نظريهٔ مذهب اهلحديث را در مورد آن مسئله تذکر می نمايد.

(نووی صفحه ١٣٧ جلد ١ و صفحه ٢٢ جلد ٢)

درين مقطع از کلام بايد گفت که هميشه در تمام ادوار و عصور گذشته اهلحديث بکسی گفته شده است که مقلد و دنباله رو هيچ امامی نبوده است، وقراءة فاتحه خلف الامام و رفع يدين و آمين بالجر را به عنوان سنت پيامبر اکرم صلی الله عليه وسلم دانسته و بآن بلاخوف و هراس از هيچکسی عمل کرده است.

ادامه دارد.

بسم الله الرحمن الرحيم

لا اله الا الله محمد رسول الله

الله اكبر

ان هذا القرآن يهدي للتي هي اقوم

ان الارض لله يورثها من يشاء من عباده

الا له الخلق والامر

الا له الخلق والامر

۱۳۸۴ هـ ق

جماعة الدعوة الى القرآن والسنة

افغانستان